د نړیوالې مرستې ماموریت
خدمت، ونډه، او هیله

# د 2020 کال
# کلنی راپور

زموږ موخه د افغانانو په ژوند کې د هیلې او بدلون رامنځته کول دي. زموږ تمرکز په روغتیایي او پرمختیایي ځانګو کې د ظرفیتونو لوړول دي، ترڅو د سترګو ساتنې، د ټولنې پرمختیایي، روغتیایي، ښونیزو او روزنیزو پروژو له لارې د خلکو په ژوند کې د بدلون جوګه شو.



iamafg.org

عمومي راپور
IAM په 2020

# د 2020 کال
# مهم ټکي

2020 کال د ټولو لپاره یو ګواښونکي کال وو - او د IAM موسسې پروژې او برنامې هم په دغه کال کې د دغو ګواښونو څخه متاثره شوې. د دې ټولو سربېره، IAM وکولای شو چې د دغو ننګونو پر وړاندې مبارزه وکړي، او د امکان په صورت کې زموږ ځینو پروژو خپلو کارونو ته دوام ورکړ او د خلکو څخه د ساتنې او د هغوی د اړتیاو پوره کولو لپاره په خپلو کارنو کې ځینې بدلونونو رامنځته کړل. د سږ کال ځینې مهم ارقامو او ټکو څخه لیدنه وکړئ!

### د کرونا پر وړاندې مبارزه

د کرونا وبا د پیل وروسته د IAM موسسې پروژو د خلکو څخه د ساتنې او د هغوی د اړتیاو پوره کولو ترڅنګ د خپلو کارونو پر نظم هم تر نن ورځې پورې تمرکز کړې،

**د لا ډیرې مطالعې لپاره د دغه راپور 34-35 مخونو څخه لیدنه وکړئ.**

### د سترګو څخه د ساتنې برنامه

سږکال، نور د وردکو په ولایت کې هم د لید یو مرکز پرانیست. د دغه مرکز د پرانیستلو په پایله کې، 731 ناروغانو درملنه وشوه، 36 عملیات ترسره شول، او 32 جوړه عینکې توزیع شوې.

### د پرمختګ برنامه

په کور دننه د بې ځایه شویو کسانو عاید لوړولو لپاره موږ سږ کال د مزار امرار معیشت او پراختیایي پروژې کې نوي او په زړه پورې میتودونو پلي کړل چې د کلیو ښځینو لپاره آرایشګرۍ کورس پکې هم شامل وو.

### د زدکړو برنامه

د دې سره چې د کرونا وبا په خاطر د FTEP اصلي کارونو څخه لرې وو، زموږ 45 زده کونکو خپلې وروستنۍ آزموینۍ خلاصې کړې، خپل مونوګرافونه یې ثبت کړل، او د دولتي دارالمعلمیون څخه فارغې شوې.

### د رواني روغتیا برنامه

زموږ د رواني روغتیا برنامې سږ کال وکړای شو چې د قرنطین په لړ کې د خلکو د اړتیاو پوره کولو لپاره مهم کارونو ترسره کړي چې ټولنیز - رواني معلولیت باندې 3029 نویو کسانو او د هغوي کورنیو ته آنلاین مشورې برابرې شوې

## د 300 څخه

زیات کارکونکي زموږه کارونو پر مخ وړي

**289**

خلکو زموږ د ښوونیزو
پروژو څخه په مستقیمه
توګه ګټه اخیستې

**429156**

خلکو زموږ کارونو څخه په مستقیمه
توګه ګټه اخیستې ده

**255976**

خلکو زموږ د رواني روغتیا
پروژو څخه په مستقیمه
توګه ګټه اخیستې

**27915**

خلکو زموږ د پراختیایي
پروژو څخه په مستقیمه
توګه ګټه اخیستې

**144976**

خلکو زموږ د سترګو څخه
د ساتنې پروژو څخه په
مستقیمه توګه ګټه اخیستې

د
**17**
پروژو په مرسته

د
**25**
بهرني رضاکارانو
څخه زیات

**د ځغاست لیکې د**
**جوړولو پایل**
**زموږ کارنو ته د**
**لاسرسی زیاتیدل**

**5**
**ولایتونه**

**2**
**نوي**
**پروژې**

موږ باور لرو چې افغانان کولای شي یو
با ثباته راتلونکې د سولې او عدالت سره
رامنځته کړي.

# فهرست

| | |
|---|---|
| معلومات او مهم ټکي | 2-3 |
| فهرست | 4 |
| د اجرائیه رئیس پیغام | 5 |
| د IAM اساسي ارزښتونه او چلند | 6-7 |
| موږ څوک یو او چیرته کار کوو | 8 |
| د سترګو څخه د ساتنې برنامه | 9-14 |
| زدکړه | 15-18 |
| رواني روغتیا | 19-26 |
| پرمختګ | 27-33 |
| د کرونا سره مبارزه | 34-35 |
| د مور شیدو پروژه | 36 |
| د صعب العلاجه ناروغانو څخه د ساتنې پروژه | 37 |
| د ځغاست لیکه | 38 |
| داخلي راپور | 39 |
| مالي | 40-41 |
| مننه | 42 |
| زموږ سره یوځای شئ | 43 |

د دغه لینک iam-afg.org په مرسته موږ سره په اړیکه کې اوسیږئ او زموږ د کارونو په اړه لا ډیر معلومات ترلاسه کړئ.

# د اجرائیه رئیس پیغام

**ګرانو ملګرو، ملاتړ کونکو او شریکانو**

**مننه چې خپل وخت مو د دغه راپور لوستلو لپاره چې په 2020 کال کې د IAM موسسې د کارونو په هکله دی ځانګړی کو.**

بې شکه چې 2020 کال په ټوله نړۍ کې یو ستونزمن کال و. کرونا وبا زموږ د کار کولو طریقې ته بدلون ورکړ او د خلکو روغتیا او امنیت یې د نوي ګواښونو سره مخامخ کړل. 2020 کال کې په ټول افغانستان کې تاوتریخوالې او ناامني هم زیاتې شوې، او د هیواد په کچه ډیرې پیښې ثبت شوې. د ناامنۍ او کرونا ویروس د دوه ګوني ګواښ له کبله د اقتصادي ناڅرګندتیا کڅه لوړه شوه چې دا بیا په کور دننه د بې ځایه شویو کسانو د کچې لوړلو لامل شو، او همدارنګه د خوړو د نشتون ګواښ هم زیات شو، د ملګرو ملتونو د وروستي راپور له مخې افغانستان د هغه هیوادنو په لیست کې دوهم شو چې خلک یې په بیړني حالت کې د خوړو خوندیتوب نلري.

او دا دې، د دغه تریخ لیدلورې سره سره، کله چې په افغانستان کې د IAM موسسې کارونو ته ګورم، ماته هیله را پیدا کیږي.

دې ستونزو ته په ځواب کې، د IAM پروژو او برنامو داسې لارې موندلې چې هم د هغه خلکو څخه چې ورته خدمت کو ملاتړ او هم ورسره د هغوی په سیمه کې ګورو، د دې کال ټولو ناخوالو ترمنځ د هیلې رامنځته کول – هغه څه چې د IAM په تیرو 12 میاشتو کار کې، ورباندې ډیر ویاړم. دا په خاصه توګه کرونا سره زموږ د پروژو د مقابلې له لارې په ښه توګه څرګندی داې شي. ځینو پروژه د یوې مودې لپاره خپل کارونو ودرول – د ویروس د خپریدو چانس کمولو سره د نورو خلکو خوندي ساتل، او کارکونکو هم د کار بیا شروع کولو لپاره په چمتوالې باندې تمرکز وکړ. او نورو کسانو هم خپلو فعالیتونو ته بدلون ورکړ ترڅو د کرونا وبا پر وخت کې د هغوي اساسي کارونو دوام وکړي. د مثال په توګه، زموږ د سترګو څخه د ساتنې برنامې وکړای شول خپلو کارونو ته دوام ورکړي او کرونا څخه د مخنیوی کړنلارو او د ناروغانو د روغتیا ساتنې ته په کتو سره یې هغوي سره لیدل. او په اخر کې دا چې زموږ د نورو پوروژو کارونه د کرونا پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ول. زموږ رواني روغتیا برنامې په هرات کې – چې په افغانستان کې د ویروس مرکز وه – د نویو او شته دونړانو سره په ګډه کار وکړ ترڅو خلکو سره د کرونا پر وړاندې د مبارزې په څانګه کې مرسته وکړي. چې حفظ الصحې په برخې کې د خلکو پوهاوي لوړول او کرونا څخه د مخنیوي لپاره د روغتیایي پیغامونو خپرول، په ناداره کورنیو باندې د روغتیایي بستو ویشل او په هرات او مرکزي ولایتو کې روغتیایي خدماتو وړاندې کونکو ته د شخصي محافظوي وسایلو ویشل پکې شامل ول. زموږ کاري ډلې په رواني روغتیا کې د خپل تخصص څخه په ګټې اخیستنې سره د کرونا رواني اغیزې چې د غم او ناڅرګندیتا له امله رامنځته کیږي حل کوي، دغه کار روغتیایي کارکونکو ته د رواني لومړنیو مرستو زده کړو، او خلکو ته د مبایل له طریقه د مشورو ورکولو په مرسته ترسره کیږي. هر یو مثال د سږ کال د ډیر شمیرو مثبتو کیسو یو کوچنی تصویر دی – او د اجرایوي رئیس په توګه په دغه بدلونونو کې ونډه اخیستنه ډیره خوندوره ده.
لکه څنګه چې مارک څخه ماته مسئولیت راوسپارل

> ”کله چې په افغانستان کې د IAM موسسې کارونو ته ګورم، ماته هیله را پیدا کیږي.“

شو، غواړم د هغه او ایملي زحمتونو ته درناوی وکړم چې په 16 کلونو کې یې افغانستان ته کیکاګلي دي. د افغانستان خلکو ته خدمت کولو په برخه کې د دوی زحمتونو، سخت کار او ژمنتیا په افغانستان کې د ډیرو خلکو په ژوند کې بدلون رامنځته کړې.

غواړم د دونرانو څخه مننه وکړم چې سربیره په دې چې کرونا د هغوي عاید هم کم کړی وو زموږ څخه یې په صادقانه توګه ملاتړ وکړ. او غواړم د هغو نوي او شته دونرانو څخه هم مننه وکړم چې د کرونا په وړاندې زموږ د مقابلې څخه هم ملاتړ وکړ.

او غواړم زموږ کارکونکو څخه – هم د محلي او هم د بهرنیو رضاکارانو – په دغه کال کې د هغوي صادقانه خدمت څخه مننه وکړم.

موږ 2021 کال ته د ګڼ شمیر بې باوریو سره قدم اخلو: افغانستان او نړۍ به د کرونا پر وړاندې څرنګه مقابله کوي؟ په دوحه کې به د سولې خبرې د افغانستان راتلونکي ته په څه معنی وي؟ د دې لپاره چې په داسې وخت کې مو تل پاتې او نه بدلدونکي خداې ته خدمت کړی د آرامتیا احساس کوم. د IAM لومړنی ارزښت توکل په خدای دی او زه ډیر خوشحاله یم چې په خدای باندې توکل کولو زموږ سره سږ کال په کار کولو او مبارزې څرنګه مرسته وکړه – چې هیله ده د دغه راپور په راتلونکي پاڼو کې یې وګورئ. په اخیر کې، موږ پوهیږو چې یوازې د خداې په مرسته کولای شو هر څه لاسته راوړو، او د راتلونکي کال لپاره زما دعا – هم د IAM او هم د افغانستان لپاره – دا ده چې خدای به زموږ کارونو کې موږ سره مرسته کوي.

فل لوئیس، اجرائیه رئیس



د IAM موسسه په ټوله کې د اجرائیه رئیس او د مشرتابه بیلابیلو ډلو لخوا ملاتړ او رهبري کیږي ترڅو د IAM پروژې او برنامې د خپلو استراتیژیو د تطبیق لپاره پیاوړي او په وسایلو سمبالې شي.

د دغه راپور په 39 مخ باندې زموږ د داخلي ساختار په اړه لا ډیر معلومات ترلاسه کړئ.

عمومي راپور

IAM په 2020

ولې موږ
هغه څه کوو
چې موږ يې کوو

# زموږ اساسي ارزښتونو

### پر خدای(ج) باندې توکل کول

موږ په دې عقيده يو چې يوازې د خدای(ج) په مرستې او لارښوونې سره موږ کولای شو چې شايسته او مناسب کار ترسره کړو.

### ټولو سره مينه

موږ باور لرو چې خدای ټولو انسانانو ته يوشان ارزښتونو ورکړي دي، د همدې لپاره هغوي زموږ د مينې او ساتنې مستحق دي. نو ځکه موږ به هيچکله تبعيض ونکړو بلکه ټولو سره به په احترام چلند وکړو، په خاصه توګه د هغو سره چې تر ټولو ورته کمه پاملرنه شوې وي.

### ډله ييز کار

موږ به هغه طريقه وکارو چې ټول په کې ګډون ولري، ټول اړوند کسان، په ځانګړې توګه واقعي ګټه اخيستونکي، او موږ به هر څوک وهڅوو ترڅو خپل توان ته په ليدو، موږ سره په مرستې کولو کې ونډه واخلي.

### حساب ورکول

موږ هغه څه چې وايو او هغه څه چې ښه وي، هغه به ترسره کوو. موږ هغه څه چې کوو د هغه په اړه داخلي او بهرني ارزونو ته چمتو يوو.

### زده کړه

موږ دوامداره زدکړې هڅوو، د پوښتونو راپورته کول او د ځوابانو پلټل چې پر مبهمو مسائلو باندې رڼا اچوي او د افغانانو پر ژوند باندې تاثير کوي.

### کيفيت لرونکی کار

کله چې زموږ موخه ښه والې وي، موږ به هڅه کوو چې د ظرفيت جوړولو او د بدلون راستلو له لارې، د منابعو څخه په سمه ګټه اخيستنې سره دوامداره او اوږدمهاله پايلې رامنځته کړو.

# د IAM موسسې
# چلند



## کارکونکي د IAM اساسي ارزښتونه منعکس کوي

د IAM موسسې ټول کارکونکي او رضاکاران د خدای(ج) لپاره درناوی ، د نورو سره مینه او په خپل ژوند، کار او اړیکو کې ښه شخصیت منعکس کوي.



## دوامداره پرمختګ سره مرسته

د IAM موسسې پروژې نوښتګرې دي، چې افغانان ترې ګټه اخلي او ملي پراختیایي موخو کې برخه اخلي، دغه پروژې داسې جوړې  شوې ترڅو د IAM تګ وروسته هم خلک ترې ګټه واخیستلې شي.



## افغانانو ته استراتژیک خدمت

د IAM پروژې په ستراتیژیک ډول یا په کلیوالي او ښاري سیمو کې هغو خلکو باندې متمرکزې دي چې تر اوسه ورته خدمت ندې شوی او یا هم د ښځو او نارینو په مشرتابه او رهبری باندې تمرکز کوي.



## د بدلون رامنځته کول

د IAM موسسه شخصي، تخصصي، او سازماني زده کړې او پرمختګ چې د خلکو ظرفیتونه لوړوي او د ټولنې او خلکو په ژوند کې جامع بدلون رامنځته کوي هڅوي.




## د ټولنو پیاوړي کول

د IAM موسسه د بیلابیلو خلکو او د بیلابیلو ټولنو ترمنځ متقابل تفاهم، درناوی او پخلاینه رامنځته کوي ترڅو د هغوې په مقابل د ګواښونه کچه را ټیټه کړي.

# موږ څوک یو

د نړیوالې مرستې ماموریت (IAM) موسسې موخه د افغانانو په ژوند کې د هیلې او بدلون رامنځته کول دي.

**زموږ تمرکز په روغتیايي او پرمختیايي څانګو کې د ظرفیتونو لوړول دي، ترڅو د سترګو څخه د ساتنې، د ټولنې پرمختیايي، روغتیايي، او ښوونیزو او روزنیزو پروژو له لارې د خلکو په ژوند کې د بدلون جوګه شو.**



بلخ
غور
قندهار
کابل
هرات

## زموږ د پروژو ځای

# 2020

# زموږ د سترګو څخه د ساتنې په برنامې کې



زموږ د سترګو څخه ساتنې برنامې په هکله په دغه ځاې کې
iamafg.org/eyecare لا ډیر معلومات ترلاسه کړې!

# څنګ تر څنګ

## د نور برنامې د ریزدنسي پروګرام یو تازه فارغ مور سره د ځان او خپلو خوبونو کیسه چې د سترګو ډاکټر کیدل دي شریکوي

"په ژوند کې ځیني وخت داسې شیبو سره مخامخ کیږم چې زما هغه پریکړه تائیدوي چې په لومړی کې مې ولې وغوښتل خپل تخصص په دغې څانګۍ کې واخلم،" ډاکټر عبدلنظیر رؤفي چې د IAM د نور څلور کلنې ښوونیزې برنامې څخه فارغ شوی دی، وایي. "کله چې ګورم د یو ړوند ناروغ سترګې بیرته ښې شوي او کولای شي بیا وګوروي، داسې احساس کوم چې زه خپلو ټولو آرمانونو ته رسیدلی یم او دغه پړوا ته د رسیدو لپاره زیاتې مطالعې چې ډیر وخت به یې نیو ارزښت درلود."

ډاکټر رؤفي په لومړي ځل هغه وخت وغوښتل چې د سترګو په څانګه کې خپل تخصص بشپړ کړي کله چې هغه د طب پوهنځي څخه فارغ کیدو، په دغه ځای که به هغه د ډیر شمیر ناروغانو سره مخامخ کیدو چې د هغوي د سترګو ستونزه درملنه اسانه وه – او ډیری یې د ساده عملیاتو په مرسته درمل کیدلو شو. "خو د دې پرځای،" هغه وایي، "چې دا ناروغان به د ژوند له ډیرو لومړني فعالیتونو سره مبارزه کوي او داسې احساس کوي چې دوي په ټولنې باندې یو بار دی."

هغه څه چې ډاکټر رؤفي په طبي ښوونځي کې ولیدل د هیواد په کچه د لوې ستونزې یوه کوچنۍ بیلګه وه - دا چې په افغانستان کې ړوندتیا او لید کمزوري نه یوازې د درملنې وړ ده، بلکه اکثرا د مخنیوي وړ هم ده. دا مسله هغه ته  وروسته د هغه تایید شوه چې یوې طبي مقاله یې ولوستله چې په هغې کې په ټول افغانستان کې د سترګو پاملرنې په اړه معلوماتو ته د لاسرسي نشتوالي او همدارنګه د هیواد په ډیری برخو کې د سترګو پاملرنې لومړني خدماتو ته د لاسرسي نشتون روښانه شوې وه.

"کله چې وینم چې یو ړوند ناروغ ښه کیږي او یو ځل بیا کولای شي چې وګوري، داسې احساس کوم چې زما ټول خوبونه پوره شوي."

"د ژورنال لوستلو زه وهڅولم چې د سترګو څانګه غوره کړم، ځکه چې پوهیدلم چې زه کولی شم یوه ورځ د دې خلکو سره په بیا لیدو کې مرسته وکړم."

ډاکټر رؤفي د IAM موسسې د وب سایټ څخه لیدنه کوله چې د نور ښوونیزې برنامې په اړه یې معلومات ترلاسه کړ. کله چې نور برنامې د نوي زده کونکو لپاره اعلانات ورکړ، هغه په چټکۍ سره خپل غوښتنلیک واستاوه، ځکه چې دې څانګې سره یې ډیره لیوالتیا درلوده او نه یې غوښتل چې دغه فرصت د لاسه ورکړي. د غوښتنلیکونه د پروسې او ارزونو وروسته، هغه نور برنامې ته د اوسیدنکو ډاکټر په توګه قبول شو.

"کله مې چې د NETC څخه لیدنه وکړه او د روغتون کارکونکو، تاسیساتو، او استاذانو سره آشنا شوم، زه پوه شوم چې سمه پریکړه مې نیولې وه، دا هغه ځای دی چیرې چې خلکو سره د مرستې کولو خوب په واقعیت بدلې دلې شي." رؤفي د شپږو ډاکټرانو په دله کې و چې سږ کال فارغ شول، او ډیر خوشحاله دی چې د IAM موسسې د نور برنامې کاري ډلې سره یوځای شو، چیرې چې هغه د لید ستونزو لرونکو ناروغانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکولی شي.

"د  تخصص برنامې په بشپړولو او د ناروغانو د خوښیو څخه ډک مخونو په لیدو سره چې ړانده ول خو اوس بیا لیدلی شي، ما ته د خوښۍ او انرژۍ څخه ډک احساس را پیدا کیږي. ځکه چې پوهیږم د دې نړۍ ښکلاو لیدلو کې د ناروغ سره په مرستې کولو کې یو څه ونډه لرم." رؤفي پوهیږي چې د هغه مزل دلته نه ختمیږي، او تمه لري د خپل مسلک په لړ کې د IAM د زده کړې ارزښت وښایي. "زه غواړم د کار او زده کړو په برخې کې د خپل پوهاوي او مهارتونو ته د ودې ورکولو لپاره هر ډول هلې ځلې وکړم."

رؤفي له نورو څخه غواړي ترڅو غټ فکر ولري او له نورو سره د مرستې لپاره سخت کار وکړي. "په پوره هوډ او زحمت سره، [ستاسو خوب] په حقیقت بدلیدلی شي،" هغه وایي. "څنګ په څنګ موږ کولی شو له خپلو خلکو سره مرسته وکړو، او نورو د هوساینې، امید او لید وګرځو."

ډاکټر روفي، چې په دې وروستیو کې د نور برنامې ښوونیزې دورې څخه د شپږو نورو ډاکټرانو سره په ګډه فارغ شو، د IAM موسسې د نور برنامې په یوه روغتون کې د ناروغانو د معاینې کولو په حالت کې دی.



| | |
|---|---|
| 2164 | سترګو د لید ساتونکی د اوستین زرق ترسره شو. |
| 541 | ناروغان باندې د (-Phaco emulsification) عملیات ترسره شول. |
| 17 | د سترګو تکنشین د تکنشینو د روزنیزې برنامې څخه فارغ شول. |

# په 2020 کال کې د نور
# برنامې اساسي ټکي

**144976**
ناروغان معاینه شول

**10153**
عملیات ترسره شول

**268994**
بوتل د سترګو چکک تولید شو

**په نور برنامې کې موږ د لوړې او مینځنۍ کچې سترګو مسلکي کسانو په روزنې باندې تمرکز کوو. ترڅو د دغې لاړې ځایي ظرفیت لوړ کړای شو، ارزانه او لاسرسي وړ خدمات برابر، په ټول هیواد کې عامه سکتور ته نوي ټکنالوژۍ معرفي او د لوړ کیفیت درملو تولید ته وده ورکړو.**

د روزنې، په خدماتو او لوړ کیفیت لرونکې محصولاتو باندې د تمرکز وجه دا ده چې موږ باور لرو دا زموږ د لید لاسته راوړلو لپاره تر ټولو غوره لاره ده: په افغانستان کې د مخه نیونکې ړندیدو له منځه تلل. د افغانستان دولت سره په ملګرتیا کې، د نور برنامه په ټول هیواد کې د لوړ کیفیت سترګو څخه د ساتنې خدماتو چمتو کولو لپاره کار کوي.

موږ غواړو چې په افغانستان کې هر څوک د سترګو څخه د ساتنې لوړ کیفیت لرونکې خدماتو ته لاسرسی ولري، او د ښه لید له لارې یو غوره ژوند ته هیله مند اوسیږي.


پداسې حال کې چې موږ دې موخې ته د رسیدو لپاره هڅه کوو، موږ باید دا ومنو چې په 2020 کال کې، د کرونا وبا ویروس په ټوله نړۍ کې د ژور زیان لامل شوی، او په نړۍ کې د عامې روغتیا، د خوړو سیسټمونو، زده کړو او ټولنیز اقتصاد پر وړاندې بې ساري خنډونو رامنځته کړي.

د IAM موسسې د سترګو ساتنې برنامه هم د وبا له امله اغیزمنه شوې ده. د ناروغانو شمیر د نورمال کچې څخه 30 سلنه ته راټیټ شوی دی. چې دا هم د قرنطین د اقداماتو او هم په ویروس باندې د اخته کیدو ویرې له امله وه، چې خلک یې روغتونونو څخه لرې وساتل. د همدې لپاره، د نور برنامې عمومي عاید کم شو، د کارکونکو معاشونه کم شول، او د ځینو کارکونکو کاري قراردادونه لغو شول. دغه وضعیت د اپریل څخه د جولای تر نیمایي پورې د دریو میاشتو لپاره دوام وکړ، کله چې د ناروغانو شمیر بیرته نورمالې کچې ته په راستنیدولو پیل وکړ.

په دغه وخت کې، د سترګو ساتنې نور ټول مراکز بند شول، خو نور برنامې په خپلو مراکزو کې ناروغانو ته د خدمت وړاندې کولو لړۍ ته دوام ورکړ.



**22225**
جوړه عینکې
وېړول شوې.



# د نور برنامې روزنې

## مور پوهیږو چې د سترګو متخصصینو روزنه، په افغانستان کې د مخ نیونکې ړوندتوب د کمولو لامل کیږي.

د اټکل له مخې 25000 افغانان په کال کې د خپلې یوې سترګې لید له لاسه ورکوي، او د هیواد 80 سلنه برخه د سترګو پاملرنې خدماتو ته محدود یا هیڅ لاسرسی نه لري، په ډیرو سیمو کې د ګن شمیر خلکو روزل به د سترګو لوړ کیفیت لرونکو خدماتو ته د لاسرسي لامل شي.

پداسې حال کې چې د سترګو پاملرنې متخصصین په ټوله کې په لویو ښارونو کې ژوند او کار کوي – ویل کیږي چې شاوخوا 70 سلنه متخصصین په کابل، هرات، مزارشریف، او کندهار کې ژوند کوي. د نور برنامه ژمنه ده چې د ډاکټرانو او منځنۍ کچې د سترګو پاملرنې متخصصینو ته روزنه ورکړې ترڅو خدماتو څخه وروسته پاتې سیمو ته خدمات برابر کړي، دا هغه هدف دی چې د IAM دفتر د تاسیس څخه تر اوسه پورې ورته کار دوام لري. پدې معنی چې د هیواد 80 سلنه برخه د سترګو پاملرنې خدماتو ته محدود یا هیچ لاسرسی نلري.

د نور برنامه په کابل او مزار کې د ډاکټرانو روزنې (residency) څلور کلن پروګرام په لاره اچولې. سږکال، دمزار سترګو روغتون کې، مور پنځه ډاکټران درلودل، چې یو پکې په اکتوبر میاشت کې فارغ او په شبرغان کې یې د سترګو شخصي کلینیک پرانیست، په هغه ځای کې د کلینیک پرانستل چې د سترګو پاملرنې خدمات شتون نلري، د نور برنامې عمومي ستراتیژۍ سره، چې د هیواد په کچه د ارزانه او د لاسرسي وړ پاملرنې خدمات چمتو کوي ترڅو د ړانده توب مخه ونیسي.


د سترګو د تکنشینو په برنامې کې زده کونکي

بل اوسیدونکی، ډاکټر په خپل لومړي کال کې دی، او پاتې درې نور یې په خپل دریم کلونو کې دي، چې یو یې په اکتوبر کې له افغانستان څخه بهر ته مهاجرت وکړ. اوس مهال په کابل کې د نور د سترګو پاملرنې روزنې مرکز کې د دوهم کال روزنې کې څلور اوسیدونکي ډاکټران دي. شپږ ډاکټرانو د استوګنې برنامه پای ته ورسوله او په 2020 کال د اکتوبر په میاشت کې فارغ شول.

د نور برنامه د منځنۍ کچې د سترګو پاملرنې مسلکي کسانو ته، یا د سترګو تکنشینو (OTs) ته هم زمور تکنشینو روزنېزي برنامې (OTTP) له لارې روزنه ورکوي. د منځنۍ کچې د سترګو پاملرنې مسلکیانو ته د نور برنامې له خوا روزنه زمور د روزنېزي ستراتیژۍ کلیدي برخه ده او له 1966 کال راهیسې ترسره کیږي.

انکسار خط او د آسانه ناروغیو پیژندلو باندې تمرکز، نرسنګ مهارتونه زده کړې، عملیات خانې او عینک جوړونې مهارتونو باندې پوهاوی د تخنیکې روزنې برنامې څخه فارغ کسان په بیلابیلو شرایطو کې کار کولو ته چمتو کړې دي. ماهره تکنشین چې د لرو پرتو سیمو خلکو ته لومړنې خدمات وړاندې کړي، د سترګو ډاکټران به پیچلو قضیو او پروسیژرونو باندې د تمرکز لپاره ډیر وخت ولري.

د بلې خوا د IAM موسسې د تکنشینو روزنیزه برنامه د سترګو تکنشینو لپاره په ټول افغانستان کې یوازینۍ کامیابه برنامه ده. دا څکه چې یو موثره روزنیزه برنامه هم نظري او هم عملي زده کړو ته اړتیا لري. د دې سره سره چې دوی په هیواد کې د سترګو خدماتو چمتو کولو لپاره د سترګو تکنشینونو رزونه د نړیوال روغتیايي سازمان، د عامې روغتیا وزارت، او نور برنامې له خوا په لومړیتوب کې ده خو نور روزنیز مرکزونه نه دي توانیدلي دواړه هم نظري او هم عملي اړتیاوې پوره کړي. په 2020 کال کې، 17 تکنشینه په خپل لومړي کال کې، 17 په دویم کال کې او 156 نور هم تر اوسه د دغې برنامې څخه فارغ شوي دي.

د نور برنامه نورو موسسو، لکه د کیور انټرنیشنل او هوپ فامیلي مډیسن ته چې د کورنې ریزدینسي برنامې لري هم روزنې ورکوي. په دغه برنامې کې، داکتران د نور برنامې لخوا په درې اونیزه روزنو کې ونډه اخلي. دا روزنې د عامې روغتیا وزارت لخوا منظور شوي لاربشود باندې ترسره کیږي، او دا د ophthalmology عمومي روزنو لازمې برخه ده، چې د سترګو ساده ناروغیو درملنه او د پیچلو او جراحي پیښو تشخیص پکې شامل دی. د دې روزنې سره دا ډاکټران به پوه شي چې د اړتیا په صورت کې ناروغان څه وخت باید د سترګو مجهز روغتون ته ولیږل شي.

په 2020 کې، د نور برنامې د کابل د عامې روغتیا وزارت د سترګو ملي روغتون څخه د سترګو یو روزنکې ته هم د شبکیه ناروغۍ او اوستین زرق په اړه روزنه ورکړه. د دغې روزنې په پایله کې، په کابل کې د عامې روغتیا وزارت د سترګو روغتون OCT ماشین واخیست او د اوستین زرق یې پیل کړ. پدې مانا چې د دې وروسته به ډیر ناروغان په کابل کې ارزانه اوستین زرق ته لاسرسی ولري.


زموږه موخه په ټول هیواد کې دا ده چې د نور برنامه په یوې ارزانه، لاسرسي وړ او لوړ کیفیت لرونکې محصولات په مرکز باندې بدل کړو.

# د نور برنامې خدماتو وړاندې کول



نوې تکنالوژۍ سره په همغږۍ کې د خدمتونو وړاندې کول، د نور برنامې د دری اړخیزې ستراتیژۍ دریمه برخه ده چې د ټول افغانستان لپاره د لاسرسي وړ او ارزانه سترګو پاملرنې خدمات چمتو کول دي.

په حقیقت کې، د نور برنامه په هیواد کې د عامه سترګو پاملرنې لوی شمیر خدمات چمتو کوي یا هم د هغو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. د نور برنامه بیلابیل خدمات او محصولات لکه د لید ساتنې او د ښایست جراحۍ، عینکې، او د لوړ کیفیت لرونکې د سترګې درمل چې ډیری یې پخپله د نور لخوا تولید شوي خلکو ته وړاندې کوي. دلته درې روغتونونه او یو د جراحې کلینیک شته چې د دې خدماتو چمتو کولو لپاره کار کوي: په کابل کې د نور د سترګو پاملرنې روزنیز مرکز (NETC)، په مزارشریف کې د مزار سترګو روغتو (MOC)، د کندهار د نور سترګو روغتون (KNEH)، او په کابل کې د دشت برچې کلینیک. سریره




پردې، نور په کابل کې د عامې روغتیا وزارت پولیکلینیک ته لوژیستیکې ملاتړ او مالي نظارت چمتو کوي او په هرات کې د هرات سترګو روغتون لپاره هم لوژیستیکې ملاتړ برابروي. دغه مسلکې روغتونو د نور برنامې له خوا جوړ شوي او د IAM پروتوکول لاندې کار ته دوام ورکوي.

د نور برنامې په 2020 کال د هغو ناروغانو شمیر زیات کړ چې په مزار او کابل کې د هغوي درملنې د اوستین زرق په مرستې ترسره شوې دي. زموږ ډاکټرانو په دغه کال کې 2164 زرقه خلکو ته تزریق کړل پداسې حال کې چې په 2019 کال کې دغه رقم 1631 ته رسیدو. د نور برنامه د دغو ناروغانو څخه یوازې 30 سلنه پیسې اخلي چې دوي یې باید خصوصي روغتونو کې د دې زرق لپاره مصرف کړي، په دې مانا چې په عروق شبکیه ناروغې باندې اخته ډېر کسان به اوستین زرق ته لاسرسی پیدا کړي. د هغه ناروغانو لپاره چې د دغه زرق اخیستلو وس نلري وړیا او تخفیفي سیستمونه هم شته. د سترګې د پردې د جراحۍ نوې طریقه چې د 2019 کال په ورستیو کې وپېژاندل شوه، 2020 کال ته هم دوام وکړ. د روزنې ترلاسه کولو وروسته، زموږ ډاکټران وتوانیدل چې په 2020 زیږدیز کال کې د Phacoemulsifi- cation 541 عملیاته ترسره کړي.

په ټوله کې، موږ په 2020 کال کې د خپلو مستقیمو پروژو له لارې 144976 ناروغانو ته د سترګو ساتنې خدمات وړاندې کړي.

سرېکال، نور د وردکو په ولایت کې هم د لید یو مرکز پرانیست، چیرې چې پخوا د سترګو ساتنې خدمات نه ول. د دغه مرکز د پرانستلو په پایله کې، 731 ناروغانو درملنه وشوه، 36 عملیات ترسره شول، او 32 جوړه عینکې توزیع شوې. په 2021 کال کې، موږ غواړو چې په نورو پنځه والیتونو کې د سترګو نوې مرکزونو پرانیزو کوم چې اوس مهال د سترګو ساتنې خدماتو ته لاسرسی نلري.

د سترګو د ساتنې خدماتو برابرول د سترګو متخصصینو روزنې پورې ډېر زیات تړاو لري. د تمرین لپاره د روغتونونو او کلینیکونو درلودو پرته، د سترګو پاملرنې متخصصین به سمه توګه روزل کیدای نشي. او د سترګو ساتنې متخصصینو روزلو پرته، په هیواد کې د علاج وړ ړندیدو کمول ناممکنه کار دی. د سترګو ساتنې متخصصینو روزلو او هغوی ته د تمرین لپاره ځایونو چمتو کولو له لارې، په ټول هیواد کې د سترګو ساتنې مسلکې او تجربه لرونکې متخصصینو د شتون څخه ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کولای شو.

# د نور برنامې مرکزي اداره

د نور سترګو ساتنې برنامه د امنیت، بشري سرچینو، او مالي اړخونو کې د ملاتړ لپاره په مرکزي ادارې (NCA ) باندې په ډیر کچه تکیه کوي. خو NCA برنامه د نور برنامې ملاتړ ترڅنګ ډیر زیات نور کارونه لکه د سترګو څخه ساتنې لوړ کیفیت لرونکې محصولات هم تولید کوي.

دغو محصولاتو د تولید سره مور کولای شو چې په خپل روغتونونو، کلینیکونو او د هیواد په نورو روعتونونو او کلینیکونو کې د روغتیایې محصولاتو ذخیره کولو کې مرسته وکړو. مور ګورو ډیر
خلک لوړ کیفیت لرونکو محصولاتو ته لاسرسی لري چې دا مور خپل هدف ته چې د مخنیوي وړ ړوندتوب منځه وړ دي یو بل قدم هم نږدي کوي. او ناروغان هم د درملو د لوړ کیفیت په اړه ډاډه دي.

د سترګو څاڅکو یو لویه برخه د نور برنامې په خپل لابراتوار کې تولید شوي. NCA د ګاونډیو هیوادونو څخه د سترګو څاڅکو تولید لپاره خام توکي واردوي، او بیا په کابل ، مزار او هرات کې زمور کارکونکي زحمت باسي چې دا د افغانستان خلکو لپاره په ګټورو محصولاتو باندې واړوي. تولید شوي محصولات بیا چې د درملنې یا تشخیصي اهدافو لپاره کارول کیږي، د نور برنامې دواړو مستقیمه او غیر مستقیمه پروژو ته او همدارنګه خصوصي سکتور ته استول کیږي.

په 2020 زیږدیز کال کې، د ډونرانو په مرستې سره، NCA په کابل کې د نوي درملتون ودانۍ جوړول بشپړ کړل. د فارمسي تولید څانګه د 2020 کال په مینځ کې نوي ټاکل شوې ودانۍ ته لاړه. زمور امید دا دی چې دا نوې ودانۍ په مور ته د سترګو څاڅکو د تولید پراخ کولو وړتیا راکړي، تولید زیات کړي، او د عامې روغتیا وزارت درملتون څانګې اړتیاوې پوره کړي. د نور د درملو تولید د دغې برنامې مالي پایښت کې کلیدي رول لوبوي، ځکه چې د برنامې ډیري عاید د سترګو ساتنې او درملتون پورې اړوند محصولاتو پلور او د ناروغ فیس څخه ترلاسه کیږي. په دغه صورت کې به، برنامه په ځان بسیا پاتې کیدو توان لري او د درملو لابراتوار چلولو لپاره د ډونر تمویل باندې تکیه نه کوي. دا د نور اوږد مهاله هدف دی، او تر 2020 زیږدیز کال پورې، مور د پلور او فیسونو څخه عملیاتي لګښتونه پوښلو توان لرو، خو مور لاهم د ګران بیه توکو ځای په ځای کولو لپاره ځینې بهرنۍ تمویل کونکو ته اړتیا لرو. په 2019 کال کې، یو ډونر د اتوماتیک ډکولو ماشین اخیستلو پروپوزل ته مثبت ځواب ورکړ چې دغه ماشین په 2020 زیږدیز کال کې د سترګو څاڅکو تولید ګړندي کوو چې د نور برنامې سره د مرسته کوي ترڅو د مالي ارخه په دوامدار توګه په ځان بسیا شي. خو بدبختانه د کورنا ویروس له کبله ، د دې ماشین پیرلو لړې بشپړه شوې نده. د دغه ماشین د پیرلو پروسه په جریان کې ده او تمه کیږي چې د 2021 زیږدیز کال په لومړي ربع کې به واخیستل شي.

په مرکزي اداره کې دننه، یو نوري ورکشاپ هم شته چې د نور پروژې لپاره د لیدلو ګڼ شمیر توکي برابروي. سربیره پردې، مرکزي اداره د جراحي وسیلو یوه کوچنۍ ذخیره لري ترڅو ډاډه شي چې د نور برنامې ټولې پروژې په اسانۍ سره پرمخ تللی شي.

مرکزي اداره د نور سترګو پاملرنې برنامې لپاره د همغږۍ ارګان په توګه کار کوي، پدې مانا چې خورا زیات اداري کارونو ترسره کوي، د نور برنامې ټولو مستقیم او یو غیر مستقیم روغتون او کلینیکونه څخه مالي څارنه کوي، او د نور برنامې کړنو په هکله ډونرانو او یا دولتي بنسټونو لکه د عامې روغتیا (MoPH) او اقتصاد وزارت (MoE) ته د راپور ورکولو مسؤلیت هم په غاړه لري.



**کله چې د IAM موسسې په 1966 کال کې خپل کار په افغانستان کې پیل کړ، په هغه وخت کې دولت زمور څخه وغوښتل چې د سترګو په ساتنې باندې تمرکز وکړو**

IAM تر دې دمه د افغانستان د سترګو پاملرنې سکتور کې په پراخه کچه برخه اخیستې، او د NOOR مرکزي اداره د حکومت سره خپلو کارونو ته دوام ورکوي ترڅو په هیواد کې د سترګو پاملرنې څخه ډاډ ترلاسه شي.

# 2020 زموږ په پرمختيايي برنامې کې



زموږ پراختيايي کارونو په هکله په دغه ځاې کې
لا ډیر معلومات ترلاسه کړي! iamafg.org/development

# راضیه

## د خپلې کورنۍ لپاره په یو وخت کې یو جوړه کالي جوړوي



### ښځې پر ځان بسیا ډلو کې راټولې شوي دي

په هغه ځای کې چې هغوی پکې د ځان لپاره پیسې سپموي، د کار او بار په طریقو باندې خپل ځانونه پوهاوي، او ټولنیزو ستونزو په اړه د یوې او بلې سره خبرې کوي.

**د ډیرې ناچارۍ او تګ لپاره د هیڅ ځای نشتون سره سره، راضیې* خپل ولایت د جګړې او نا امنۍ له کبله پریښود او د ډیر شمیر نورو په کور دننه بې ځایه شویو کسانو سره په مزار ښار کې یوځای شوه.**

"د وړي په ګرمو میاشتو کې او د ژمي په سړې هوا کې د بخارۍ پرته به مې د خیمې څخه لاندې ژوند کاوه،" راضیه وایي.

سریره په دې چې ځینو موسساتو راضیه ته خواړه او سرپناه چمتو کړل، خو دغو مرستو د هغې اقتصاد کې بدلون رامنځته نکو. "زموږ خلک، او په خاصه توګه ښځې وزګاره دي، او د داسې یو وضعیت سره د مقابلې لپاره موږ هیڅ رقم مهارت نه درلود. کله چې د MLDP پروژه زموږ کلي ته راغله موږ د خپل ژوند د کیفیت لوړولو لپاره ګڼ شمیر مهارتونو زده کړه،" راضیه وایي. ځینو ښځو د MLDP د وړیو سپینولو په برنامې کې ګډون وکړ – ښځو ته به یو څه وړې ورویشول کیدې، چې هغو به بیا وروسته نخ ته بدلول او د ګڼې لپاره به یې خرخول. نورو ښځو د پلاستیکي تونل لاندې د سبزیجاتو کښت زده کړ، چې ورسره یې خپلو

"موږ د خپل ژوند د کیفیت لوړولو لپاره ګڼ شمیر مهارتونو د زده کولو لړۍ پیل کړه"

کورنیو ته د خوړو په برابرلو کې او د راتلونکي کال لپاره د تخم په ساتلو کې مرسته وکړه.

ما د خیاطۍ په شپږ میاشتني کورس کې ګډون وکړ،" راضیه وایي، "او اوس کولای شم د ښادیو لپاره د کالیو د ګنډلو وړوکي فرمایشونو واخلم." راضې په ځان بسیا ډلې کې چې د IAM له خوا رامنځته شوې وه هم ونډه واخیستله. "د ډلې په مرستې سره موږ د خپل راتلونکي لپاره پیسې سپموو. دغه ډله نه یوازې زما لپاره ګټه وره ده بلکې هر هغه ګډونوال ته ګټه رسوي چې د دغه ډلې څخه د پور په اخیستلو سره وکړای شي خپل ژوند کې بدلون رامنځته کړي."

راضیه د هغو ډیرو شمیر ښځو څخه یوه ده چې د MLDP په پروژې کې یې ونډه اخیستې وه، او د یو ننګوني حالت څخه د راتګ سریره، اوس کولای شي خپل مالي مصارف چمتو کړي.

## زموږ د پرمختګ برنامه په یوه لید کې

موږ باور لرو چې دوامداره پرمختګ باید جامع اوسیږي - چې وکولای شي په سمه توګه د ټولنو او خلکو اړتیاوې پوره کړي.

موږ جامع پرمختګ د څلورو برخو په مرسته لاسته راوړو

# د مزار امرار معیشت
# او پراختیایی پروژه

د IAM موسسې د مزار امرار معیشت او پراختیايي پروژه (MLDP) په کور دننه بې ځایه شویو (IDPs) سره خپل کار ته دوام ورکوي، ترڅو د هغوي اقتصادي ظرفیت لوړ او په خپل ژوند کې د بدلون راوستلو وړتیا پیدا کړي. په 2020 کال کې، د MLDP پروژې د 500 څخه زیاتو کسانو سره په مستقیم توګه کار وکړ، چې هم د پروژې عادي کارونو لکه WASH، کرنه، تکنالوژیکي مرستې، ظرفیت جوړونه، او د ځان بسیا ډلې او نورو عایداتي لارو په مرسته اقتصادي پرمختګ پکې ترسره کیدل او هم د کرونا په وړاندې د مقابلې، د ګټه اخیستونکو خوندي ساتل او هغوي ته د یو بل څخه د ملاتړ کولو لارو ښودل پکې هم شامل ول.

د IAM موسسې د مزار امرار معیشت او پراختیايي پروژه (MLDP) په کور دننه بې ځایه شویو (IDPs) سره خپل کار ته دوام ورکوي، ترڅو د هغوي اقتصادي ظرفیت لوړ او په خپل ژوند کې د بدلون راوستلو وړتیا پیدا کړي. په 2020 کال کې، د MLDP پروژې د 500 څخه زیاتو کسانو سره په مستقیم توګه کار وکړ، چې هم د پروژې عادي کارونو لکه WASH، کرنه، تکنالوژیکي مرستې، ظرفیت جوړونه، او د ځان بسیا ډلې او نورو عایداتي لارو په مرسته اقتصادي پرمختګ پکې ترسره کیدل او هم د کرونا په وړاندې د مقابلې، د ګټه اخیستونکو خوندي ساتل او هغوي ته د یو بل څخه د ملاتړ کولو لارو ښودل پکې هم شامل ول.

د نورو پروژه په شان، کرونا د MLDP پر کارونو هم اغیر کړی دی. MLDP خپل ټول کارونو ودرول ترڅو د کرونا سره د ښې مقابلې په خاطر خلکو ته ښونیزې برنامې وړاندې کړي او د 220 څخه زیاتو کورنیو ته یې روغتیایي بستې وویشلې چې صابون، دستکشې او ماسکونه پکې شامل ول. کله چې د کرونا وبا د مثبتو پیښې کمې شوې، او د MLDP کارکونکي پوه شول چې روغتیایي ټکو په مراعت سره کولای شي په خوندي توګه ورځني کارونو ته بیرته دوام ورکړي، نو د پروژې کارونه یې په هغو ځایونو کې بیرته شروع کړ چې امکانات یې شته ول.

په هغو کلیو کې چې MLDP کار کوي، ګڼ شمیر خلک د خپلو کورنیو په خاصه توګه د ښځو سره د مرستې کولو لپاره د ننګونو سره مخامخ ول. د همدې لپاره د کلیو کمیتو سره په همغږۍ کې موږ بیوزله کورنیو باندې وړۍ وویشلې ترڅو ښځې وکولای شي وړۍ نخ ته بدلې کړي، نخ په بازار کې وپلوري او بیا په پیسو باندې یې لا ډیرې وړۍ وپیري، او یا هم د عاید تولیدونکي ښاروي لکه چرګان او اوزې ورباندې وپیري. موږ د ښځو لپاره د آرایشګرۍ کورس هم په لاره اچولی دی،
د MLDP پروژې په څلورو کلیو کې د ځان بسیا ډلې په جوړولو کې هم ونډه واخیستله. خو د بده مرغه، د MLDP کارکونکي د څو میاشتو لپاره ونشو کولای چې دغو ډلو سره وګوري. د اوس لپاره دو ډلې فعاله دي او دوه نورې به هم په 2021 کال کې بیا پیل شي.

د پلاستیکي تونل او شنوخونو څخه د استفادې په برخه کې د روزونو او د سبزیجاتو د کښت په برخې کې د عملي روزنو په مرسته، د پروژې ګډونوالو نه یوازې خپل د غذایی توکو څخه بډایه سبزیجات وروزل، بلکې واتوانیدل یوه برخه یې په نورو خلکو باندې هم وپلوري کړي.

او په اخر کې دا چې، د دوه کلیو څخه سړو، ښځو، هلکانو او نجونو زموږ د WASH په درسونو کې ګډون وکړ، خپل کلي پاک ساتي، او ګڼ شمیر مهارتونو لکه د سرې جوړول یې زده کړ، چې دا به هم د کلي فضا ته او بیا وروسته د کرنې راتلونکي ته ګټور تمام شي.

## په 2020 کال کې د MLDP پروژې کارونه

- په څلورو کلیو کې د 32 سړیو او 29 ښځو لپاره د کلي شورا د مسئولیتونو، پوهیدلو او پوهولو، وکالت او د کلي پراختیا په اړه د زده کړو برابرې شوې.
- په درې کلیو کې 37 سړیو او 61 ښځو ته روغتیای کورسونو برابرول ترڅو د ناروغیو کچه راټیټه او د د سرو د جوړولو ښه طریقې هغوي ته وښودل شي.
- 14 ښځو او 15 سړیو په کلیو کې د پلاستیکي تونل کښت په اړه روزنې ترلاسه کړئ.
- په دوه کلیو کې 15 سړیو او 17 ښځو ته د سبزیجات د کښت په اړه روزنې ورکړل شوې.
- په یوه کلي کې د سیمه ییز روزنکو له خوا د 5 نجنو لپاره د آرایشګرې کورس په لاره واچول شو.
- په 5 کلیو کې د وړیو ویشلو برنامې له لارې، 91 بیوزله ښځو باندې وړې وویشل شوې چې د خپلو کورنیو یواځنې کارکونکې وې.
- 31 بیوزله کورنیو ته پخلنځې جوړ شول چې به خپله باندې نشو کولای د هغه لګښت برابر کړي او په داګ کې به یې پخلې کول.
- خلکو ته د شنوخونو د جوړولو چارو، د سبزیجاتو کښت، پسرلي لپاره د نهال تولید ور زده کړل شول.
- په دوه کلیو کې د 40 هلکانو او 40 انجونو ته چې ښوونځي کې شامل ندي د ماشوم ته د ماشوم زده کړو برابرې شوې.
- 220 کرونیو ته د کرونا په هکله معلومات ورکړل شول، او ورته روغتیایي کڅوړې وویشل شوې.
- په روغتیایي کڅوړو کې شامل ماسکونه چې د 1000 څخه زیات ول د MLDP د خیاطې پخوانیو ګډونوالو له خوا ګنډل شوي ول.



یوه کوچنۍ کوټه چې د MLDP پروژې له خوا د خلکو لپاره رغول شوې ترڅو هغوي پکې خواړه تیار کړي



د MLDP د ماشوم په ماشوم کورس کې دغې نجلۍ د غاښونو په پاک ساتلو کورس کې ګډون کړئ



د MLDP یو ګډونوال چې د دغې پروژې جوړ شوي ماسک څخه ګټه اخلي

**1**

### د بدلون رامنځته کول

د ټولنې بدلون: په عاطفي، آکاډمیک، فزیکي، او ټولنیزو ځانګه کې د ژوند کیفیت لوړول

**2**

### انعکاس

د مهارتونو او تجهیزاتو د ودې او ګټه اخیستنې لپاره د ظرفیتونو لوړول

**3**

### نوښت او ادغام

دوامداره زده کړه، چې هم پر تحقیقاتو او هم د نوښتګرو حل لارو په آزمایش باندې تمرکز کوي.

**4**

### پلي کول

د پراختیایي برنامو د ودې او پلي کولو په موخه زموږ د داخلي ظرفیت لوړولو لړې دوام کول

# د ټولني پراختيايي پروژه

د 2020 کال ننګونو سربيره، د ټولنې پراختيايي پروژې (CDP) په مرکزي سيمو کې خپلو کارونو ته په دغه کال کې دوام ورکړ ترڅو په دغو سيمو کې د کورنيو او ټولنو ورتياوی لوړې کړي او هغوی د خپلې اړتياوی پوره کولو، د مقاومت او د ژوند کيفيت لوړولو له لارې د جګړې، ناچارې او زيان منني اغيزې کمې کړي.

**CDP پروژه د خوارو، تغذيه، او روغتيايي ستونزو حل لپاره د ملګرو ټولنو سره په ګډه کار کوي، چې بيلابيل فعاليتونه لکه د روغتيايي تشنابونو، د پاکو اوبو سرچينې، او کورني باغچې جوړول؛ د مور روغتيا، چې د مور او ماشوم د خوندي ساتلو په څرنګوالي باندې تمرکز کول؛ د اقتصادي ظرفيت رامينځته کول، چې بيلابيلې فعاليتونه لکه د غوره محصولاتو لپاره د کروندګرو سره مرستې کول، او د سوداګرۍ يا خياطي مهارتونو ښودل پکې ترسره کيږي؛ او ځواکمنول، چې د سواد زده کړې کورسونو، د سولې جوړونې، ټول شموله مشرې، او داسې نور پکې شامل دي.**

2020 کال د تيرو کلنو په پرتله د کرونا ويروس له کبله توپير درلود، کرونا د دغه کال په لړ کې زموږ عادي کارونه ودرول. د دغې مودې په لړ کې، موږ د کليو سره خپلې منظمې ناستې ودرولې، او يوازې د پروژې هغو فعاليتونو ته مو تمرکز کوو چې د مخنيونکي اقداماتو په رعايت سره په بهر کې ترسره کيدلاې شوې، لکه په يوه تشناب باندې کار کول. د دغې وقفې په لړ کې، زموږ ګڼ شمير کارکونکو د سيمې لپاره د هوايي ليکې د کار په بشپړيدو باندې تمرکز کاوه ترڅو دغې سيمې ته لاسرسی آسانه او په دغې سيمې کې زموږ کار دوامداره کړي – د هوايي ليکې په اړه ډير معلومات پر 38 مخ باندې لوستلی شئ. موږ د IAM رواني روغتيا برنامې سره په ګډه وتوانيدلو چې د چټک غبرون پروژه هم پلي کړو، دغه پروژه د کرونا په اړه د پوهاوي لوړوي او د دغې ويروس سره د مقابلې لپاره ديزاين شوې وه، چې د شخصي ساتنې توکي او روغتيايي بستې په نيازمنده کسانو باندې وويشل شوې. تاسو کولی شئ د کرونا ويروس پر وړاندې د IAM موسسې غبرګون په اړه نور معلومات په 34-35 پاڼو کې ترلاسه کړئ.

”د BLiSS کورس درسونه زموږ لپاره ډير ګټور تمام شول، او زه ډير زيات خوشحاله يم چې د يوې مور او د هغې ماشوم سره مې د زيږدون پر مهال مرسته وکړای شوه او د هغوي ستونزه مې حل کړه – دا لومړی ځل دی چې د يو ښځې سره د زيږدون پر مهال مرسته کوم، هيله ده چې په راتلونکي کې به د ډيرو ښځو سره مرسته وکړای شوم.“

**CDP سره د يو همکار کلي څخه د BLiSS سيمه ييزه ښوونکې**



په ځان بسيا ډلې يوه غړې د نورو لپاره د حسابدارۍ طريقه په اړه تشريح ورکوي.



د BLiSS په کورس کې ښځې



د سيمه ييز غنمو چې سرخې لرې د سرخې پر وړاندې د مقاومو غنمو سره مقايسه شوي چې د CDP له خوا برابر شوي.

## د 2020 کال مهم ټکي او کارونه

- زموږ 17 ملګري ټولنې اوس د صحرا نشيني څخه خلاصې شوي دي!
- د 83 کورنيو لپاره 60 روغتيايي تشنابونو جوړ شول.
- د زيږدون او ژوند ژغورنې مهارتونو (BLiSS) په اړه61 کورسونه ترسره شول
- د BLiSS کورسونه څخه اوس مهال 33 دوام لري
    - د 60 بيلابيلو ولسواليو څخه په 108 بزګرو باندې د سرخې پر وړاندې مقاومو غنمو تخم وپلورل شو.
    - د 11 کليو څخه د ځان بسيا ډلو 128 غړو د SHG په روزنو کې ګډون وکړ او ټول 35 درسونه يې ختم کړل.



- د نارينو 6 او د ښځينو 3 سواد زده کړې کورسونه په 6 کليو کې بشپړ شول.
- 154 ماشومانو د سولې جوړونې کورسونو کې ګډون وکړ.
- 61 کورنيو (335 کسانو) په خپل کليو کې د اوبو سيستم له امله پاکو ابو ته لاسرسی پيدا کړ (په دوه کليو کې د جوړولو چارې رواني دي).
- د سبزيجاتو تخم د 700 څخه په زياتو کسانو باندې په 100 کليو کې وپلورل شول. او 531 ښځو ته د سبزيجاتو تخم په وړتيا توګه ورکړل شو.
- په ژمي کې کله چې سړکونه بند ول، 15 ناروغان چې بيړني وضعيت کې ول د واوري موټر په مرسته د لعل روغتون ته وليږدول شول (7 ناروغه چې زيږدون ستونزې او 8 نور هم د ژور تنفسي ستونزې او نورې روغتيايي ستونزې درلودې)

# 2020

# زموږ په رواني روغتیا برنامې کې



زموږ د رواني روغتیا کارونو په هکله په دغه ځاې کې
iamafg.org/health لا ډیر معلومات ترلاسه کړئ!

# د کلنو کلونو عذاب وروسته خوشحالي

د کلنو کورنيو تاوتريخوالو او د خپل روړدي خاوند له خوا د ناوړه فزيکي چلند وروسته، ريټا سرخوږي، بې خوبۍ، د قهر احساس، ناراحتي، او نا آرامي درلودله.

د هغې مېره به هغې ته د خپل کورنۍ او ګاونډيو پر وړاندې سپکاوی کوه او حتی د وژلو ګواښ به يې ورته کاوه. د دې ټولو سره سره د کرونا د وجې فشار هم د هغې اظطراب ډير کړی وه او د هغې کورنۍ کې د شخړو د زياتوالو لامل شوې وه.

ريټا د درملنې لپاره کلينيک ته راغله او هغه مشاور ته راجع شوه چې دا مهال د IAM له خوا روزل کيږي ترڅو د روغتيا ټولنيز مشاور شي. په لومړۍ ناسته کې، هغې د کورونا ويرس په اړه معلومات ترلاسه کړل او دا چې څه شی وخوري او وڅښکي ترڅو د کورونا ويرس په اړه د هغې انديښني کنټرول کړي. يوه اونۍ وروسته، هغه کلينيک ته راستنه شوه او د کورنۍ د غړو چلند په اړه يې معلومات شريک کړل، او دا چې څنګه نشي کولی خپل احساسات کنټرول کړي. مشاور بيا په دغه وخت کې دغه توان درلود ترڅو ريتا ته د دغې ستونزې سره د مقابلې

> ”هغوي ما او زما مشاومانو سره خپل چلند ته بدلون ورکړی وه.“

لپاره بيلابيلې لارې او سرچيني وښايي، ترڅو ريټا پوه شي چې څنګه خپل ناوړه چلند او قهر کنترول کړي. په راتلونکو اونيو کې کله چې هغه د دريمې ناستې لپاره بيرته راستنه شوه، هغه خوشحاله وه ځکه چې هغه توانيدلې وه چې د خپلو ستونزو په اړه د خپل خسر سره خبرې وکړي او هغوي دواړه وتنوانيدل چې په ګډه سره د ستونزه سره مبارزه وکړي.

اوس د څو اونيو وروسته، د هغې درملنې پلان کې پرمختګ راغلی او کورنۍ يې هم توانيدلې چې د هغې مېړه وهڅوي ترڅو د خپل اعتياد د درملولو لپاره کلينيک ته لاړ شي.

په څلورمه ناسته کې، هغه د خندا څخه په ډکې خولې راغله. هغې وويل، ”اوس زه فکر کوم چې زه په يوه ښې کورنۍ کې ژوند کوم. هغوی زما او زما ماشومانو سره خپل چلند ته بدلون ورکړی دی.“ د 16 کلونو وروسته، د هغې مېړه پريکړه وکړه چې مخدره توکي پريږدي، او هغه په خپلې کورنې کې د بدلونونو په اړه خوشبينه وه.

*زمونږ د پروژې په اړه چې د مشاورينو د ظرفيت په لوړولو باندې تمرکز کوي په 28 مخ باندي لا ډير معلومات ترلاسه کړئ


د ټولنيز-رواني مشاورينو ظرفيت لوړولو لپاره يو ورکشاپ


يو ټولنيز همغږي کونکې د تعقيبي غونډې د ترسره کولو په حالت کې

**373** په رواني-ټولنيز معلوليت باندې اخته ناروغانو ته د رواني روغتيا خدمات برابر شول.

**4774** په رواني-ټولنيز معلوليت باندې اخته ماشومانو د رواني روغتيا خدمات ترلاسه کړل

# په 2020 کال کې د رواني روغتیا برنامې مهم ټکي



د PPSD یو غړې چې د رواني روغتیا د ګټې تولید، عامه پوهاوي، او زدکړو په برنامه کې یې ګډون کړې

زموږ د رواني روغتیا برنامه د رواني روغتیا ټولنیز خدماتو ته د ودې ورکولو او ارزانه کولو لپاره کار کوي، د رواني روغتیا ستونزې راکموي، او عاطفی آرامتیا لوړوي. موږ غواړو چې د رواني-ټولنیز معلولیت باندې اخته خلکو ته د تل پاتې امید په رامنځته کولو کې ونډه واخلو.

موږ دا کار د پنځو پروژو په مرسته چې یو بل پورې تړلي دي ترسره کوو:
د ځوانانو د عاطفي ځواک پروژې (YERP)، د رواني روغتیا ټولنیزه پروژې (CBMHP)، د کوچنیانو او تکني ځوانانو د رواني ناروغۍ پروژې(CAPP)، او د ټولنیزو روغتیایي مشاورینو پروژې (HSCP) له لارې خپلې موخې په حقیقت بدلو.

د دغو پروژو هره یوه په رواني - ټولنیز معلولیت باندې اخته خلکو هوساینې لپاره له بیلابیلو لارو مرسته کوي - ځینې یې په مخنیوي تمرکز کوي، ځینې یې په درملنې تمرکز کوي، او ځینې یې بیا د وکالت په برخه باندې تمرکز کوي. زموږ لید دا دی چې دا برنامه به یوې داسې افغاني ټولنې په رامنځته کولو کې مرسته وکړي چیرې چې ټول خلک، په ځانګړې توګه ځوانان او هغه کسان چې رواني - ټولنیز باندې اخته دي، له فکري او ټولنیزه پلوه په هغې کې شامل وي.

په ټوله کې
**255976**
کسانو د رواني روغتیا برنامې څخه ګټه اخیسې

**15309**
تنو د پوهاوي په لوړولو برنامو کې ګډون وکړ

**14** **ملاتړ کونکي ډلې پیل شوې**
د یو تر بل څخه د ملاتړ په موخه د CPSDs ،PPSDs، میندو او پلرورنو، او ښوونکو څخه ملاتړ شوې.

# وقایه او مخنیوی

په کومه طریقه چې موږ روزل شوي یو، څرنګه مو چې ستونزو سره مبارزه کړې، او په کومه طریقه چې موږ له یو بل سره اړیکې ټینګو ممکن زموږ رواني روغتیا باندې تاثیر ولري - او د IAM رواني روغتیا برنامې یوه موخه دا دی چې موږ څنګه کولی شو د خپل رواني روغتیا په ساتلو کې فعال اوسیږو او د رواني ستونزو د رامنځته کیدلو مخنیوی وکړو. زموږ دوه پروژې - د ښې پالنې (PPP) او د ځوانانو د عاطفي څواک (YERP) پروژو موخه دا ده چې خلکو څخه ملاتړ او هغه وسیلې ورته چمتو کړي چې دوي د خپلو رواني روغتیا د ښه والي او رواني روغتیا ناروغیو څخه د مخنیوي لپاره ورته اړتیا لري.

## د ځوانانو د عاطفي پیاوړتیا پروژه

زموږ د ځوانانو د عاطفي پیاوړتیا پروژې موخه د ځوانانو عاطفي پیاوړتیا ته ودې ورکول دي - دوی ته د ژوند مهارتونه او د هغو وسایلو چمتو کول دي چې دوی ورته اړتیا لري ننګونو سره مخ کیږي او پرمختګ وکړي. د دې کار ترسره کولو لپاره، موږ په هرات کې د پوهنې ریاست سره نږدې کار کوو ترڅو د احساساتو شاوخوا پوهې ته وده ورکړو. موږ ښوونکو ته روزنه ورکوو - څوک چې بیا وروسته خپل زده کونکې په دې مهارتونو کې وروزي، همدارنګه د کورنیو او ټولنو سره کار کوي ترڅو د دوی پوهې او د ځوانانو لپاره د ژوند مهارتونو پوهه

"د ژوند د مهارتونو زده کولو او د ځوانانو پیاوړتیا زیاتوالی د ځوانانو لپاره یو فرصت و چې د کرونا بیړني وضعیت سره ښه مقابله وکړي او د ځان څخه ډیر صبر وښایي."

- عبدالعلي *، یو زده کونکی چې د ژوند مهارتونو کې روزل شوی

لوړه کړي ، د کورنیو او ښوونځیو ترمینځ اړیکې رامینځته کړي ترڅو د ماشومانو اړتیاوې پوره کړي.

د کرونا ویروس له کبله په 2020 کال کې ښوونځي د څو میاشتو لپاره وتړل شول د همدې لپاره دغه کال د YERP پروژې لپاره یو

ډیر ننګونکی کال و. خو پروژې اظطراري پلان جوړ کړ او زموږ پلان شوي کارونه يې مدیریت کړل، چې زده کونکو روزنو لپاره څلور بیلابیلو ښوونځیو ښوونکو ته روزنه ورکړل شوه، په څلورو ښوونځیو کې د ښوونکو انجمن رامینځته شو، او د ژوند مهارتونو، د ځوانانو حقوقو، پوهیدل او پوهولو، د شخړو حل، د حق غوښتل، بشري حقونو، او په ټولنه کې د ځوانانو ونډې په اړه د پوهنې ریاست کارکونکو، پلرونو او میندو، د کلیو د شورا غړیو، او دیني عالمانو ته روزنه ورکړل شوه. زموږ د مثبت کارونه تاثیرات دوام لري، لکه د والدینو او ماشومانو ترمنځ د اړیکو ښه کیدل - د لسم ټولګي زده کونکې اوس کولای شي چې د خپلو ستونزو په اړه خبرې وکړي او اوس د خپلو کورنۍ له خوا مرسته ترلاسه کوي.

د منظمو کارونو سربېره، موږ د کرونا ویروس پر وړاندې مبارزې کې هم ونډه اخیستې. چې پکې ښوونځیو ته د کرونا مخنیوي توکو توزیع کول، د تلیفون له لارې کورنیو سره اړیکې ته دوام ورکول، د مور او پلار او ماشومانو څخه ملاتړ کول، او آنلاینو مشورو برابرول شامل ول. د دغو مشورو له لارې پلرونو او ماشومان د کرونا ویروس وبا په لړ کې د رواني روغتیا فشارونه باندې بریالي شول (د رواني روغتیا برنامې نورو پروژو سره په ګډه)، د فشار مدیریت او حفظ الصحه ترویج په اړه د ټولنې غړو ته د معلوماتو، زده کړو او اړیکو نیولو توکي (IEC)توزیع کول، او درلودل 160 ښوونکې په رواني لومړنۍ مرستې کې وروزل شول. موږ د فشار او وخت مدیریت په اړه تعلیمي انیمشن فلم هم جوړ کړی دی چې بیا وروسته په سیمه ییزه تلویزیونونو کې خپور شو.



### په 2020 کال کې د YERP پروژې مهم ټکي

- د روزنکو روزنې (ToT) څلور ښوونځیو کې 60 ښوونکو ته وړاندې شوې چې بیا هغوی وروسته د ژوند مهارتونو روزنې 936 زده کونکو ته وړاندې کړې.

- په څلورو ښوونځیو کې د ښوونکو 4 انجمنه جوړ شول. په ټوله کې 40 ښوونکي په دغه انجمنونو کې ګډون لري، او د دغه انجمنونو 20 غړیو ته روزنه هم ورکړل شوې ده.

- د معارف کارکونکو 17 ته د ځوانانو حقوقو، پوهیدلو او پوهولو، د شخړو حل، د ژوند مهارتونو، د حق غوښتلو، د بشري حقونو، او په ټولنه کې د ځوانان رول په اړه روزنې ورکړل شوې.

- 3 ښوونځیو په هرات کې د ژوند مهارتونو درسونه په خپل درسي نصاب کې شامل کړ.

- د کلیو شورا 52 غړو/دیني علماوو ته د ځوانانو حقوقو، پوهیدلو او پوهولو، د شخړو حل، د ژوند مهارتونو، د حق غوښتلو، د بشري حقونو، او په ټولنه کې د ځوانان رول په اړه روزنې ورکړل شوې.

- په 4 ښوونځیو کې په ځان بسیا 4 ډلې جوړې شوې. هره ډله 16-12 غړي لري (په ټوله کې 54 غړي).

- 105 زده کونکو څخه د عاطفي څواک آزموینه واخیستل شوه چې د ژوند مهارتونو زده کړې یې ترلاسه کړې وې. د آزموینې څخه وروستنۍ ارزیابي دوام لري.

- 39 میندو او پلرونه د ځوانانو حقوقو، پوهیدلو او پوهولو، د شخړو حل، د ژوند مهارتونو، د حق غوښتلو، د بشري حقونو، او په ټولنه کې د ځوانان رول په اړه روزنه ترلاسه کړې. د روزنې په پایله کې، روزل شوي والدین په ښوونځیو کې درې میاشتنۍ ناستې کې برخه اخیستې او د ځوانانو لیوالتیا ښه کولو لپاره د والدینو او ښوونځیو ترمینځ همکارۍ باندې ژمن دي.

-د یونیسف او د کار او ټولنیز چارو ریاست څانګې (DOLSA) سره په نږدې همکارۍ کې، د YERP پروژې 87 تنکیو ځوانانو او 28 تنو کارکونکو لپاره د ژوند مهارتونه روزنه په برابره شوه، او د کار او ټولنیزو چارو ریاست کارکونکو روزنه ترلاسه کړه. او د انجونو او هلکانو روزنتونونو څخه 200 ځوانان ته هم روزنې برابرې شوې.

# د ښې روزنې پروژه

د IAM موسسې ښې روزنې پروژې موخه په کورنيو کې ورزنيو کارنو ته وده ورکول او په افغانستان کې د ماشومانو پر وړاندې د لوړې کچې تاوتريخوالي راکمول دي. موږ پوهيږو چې په کورنيو او ښوونځيو کې د ماشومانو او ځوانانو پر وړاندې تاوتريخوالی د روان ټولنيز معلوليت يو مهم عامل دی، او د تاوتريخوالي لوړه کچه د اوږدې مودې لپاره رواني روغتيا ستونزې رامينځته کوي. موږ د ميندو او پلورونو - په ځانګړي توګه د هغو پلرونو او ميندو سره چې په رواني ټولنيز معلوليت باندې اخته ماشومان (CPSD) لري، په رواني ټولنيز معلوليت باندې د اخته کسانو (PPSD) ماشومانو سره چې د تاوتريخوالي ډيريدونکي خطر سره مخامخ دي - ښوونځيو، د ټولنې مشرانو، په ماشومانو باندې متمرکزه نورو موسساتو، د افغانستان دولت اړوند رياستونو، او رسانيو سره کار کوو، ترڅو په کړنو، کارونو، اړيکو، او پاليسيو کې بدلون رامنځته کړو. موږ د پروسيجرونو او پاليسيو پلي کولو او پراختيا لپاره پر ملاتړ باندې هم پاملرنه کوو. ترڅو ماشومان له تاوتريخوالي څخه وژغورو او هغه مثبت بديلونه په ګوته کړو چې نه عملي کيږي.

د 2020 کال په لړ کې، ښوونکو، ملايانو، پلرونه او ميندو، د ټولنې رضاکارانو، د موسساتو کارکونکو او د ښوونځيو شوراګانو غړو ته د ښې روزنې، بې تاوتريخوالي ټولګي مديريت، پوهوېدلو او پوهولو، د شخړو حل او حق غوښتنې مهارتونو په اړه روزنې ورکړل شوې. د دغو روزنو برخه اخيستونکو بيا دا مهارتونه په خپلو کورنيو، ښوونځيو او ټولنو کې عملي کړل.


د ښونځيو شورا سره غونډه


د رواني روغتيا نړيوالې ورځې په اړه د عامه پوهاي لوړول

### د کرونا کبله بدلونونه

- د ښې روزنې او ماشوم د استرس په اړه په انلاين بڼه د مشورې ورکړل شوې.

- د ماشوم استرس، ښې روزنې په اړه د تلويزيوني پيغامونو جوړول او د سيمه ييزه تلويزيونونه له لارې د هغوی خپرول.

- د ښې روزنې د پروژې ډلې غړو په سيمه ييزه تلويزيوني او راډيوي برنامو کې ونډه اخيستې او د قرنطين په موده کې د ښې روزنې په اړه او د ماشوم د استرس مديريت په اړه يې خبرې کړې.

" زه د خپلې لور څخه ملاتړ کوم او هغه پريږدم چې د خپلې خوښې کار وکړي. هغه اوس په ځان ډير باوري او خوشحاله ده"

- د والدينو د ملاتړ کونکي ډلې غړې، پري وايي

### په 2020 کال کې د PPP پروژې مهم ټکي

- د پروژې ارزونې ښايي چې د هغو کورنيو کارنو ښه مديريت د 13 سلنه څخه 83 سلنې ته لوړ شوې چې پلرونو او ميندو يې روزنې ترلاسه کړې دي.
- درې موسسو د ښې روزنې اړوند موضوعات په خپلو برنامو کې شريک کړل.
- 60 ماشومانو ته د موسسې کارکونکو له خوا روزنې ورکړل شوې.
- روزل شويو ښوونکو 112 ماشومان د کوچنيانو او نويو ځوانانو رواني روغتيا پروژې (CAPP) خدماتو ترلاسه کولو لپاره نومورې پروژې ته راواستول شول.
- 7000 کسانو د بې تاوتريخوالي روزنې او د رواني معلوليت لرنکو ماشومانو څخه د ملاتړ کولو د پوهاوي لوړلو غونډو کې ګډون وکړ چې د کليو مشرانو او رضاکارانو له خوا تنظيم شوې وې.
- 138 پلرونو او ميندو د ښوونځيو په غونډو کې ګډون وکړ چې د پروژې له خوا د ماشومانو ملاتړ او د ځانګړيو غونډو (د رواني روغتيا نړيواله ورځ، د ماشومانو نړيواله ورځ) د لمانځلو لپاره په لاره اچول شوې وې.
- 13 تلويزيوني خپرونې او د ښې روزنې د مهارتونو په اړه 3 انيميشنه جوړ او د سيمه ييزه تلويزيونونو له لارې خپاره شول.
- 7000 مجلې چاپ او خپرې شوې، په دغو مجلو کې د رواني روغتيا، ژوند مهارتونو، د ښې روزنې مهارتونو، او د ماشومانو رواني روغتيايي مسئلو لکه د هغوي په کړنو کې ستونزې، خپګان، د ستونزو زده کول او ADHD په اړه ليکنې شوې وې.
- په 2020 کال کې د PPP پروژې 108569 مستقيم او 33109 غير مستقيم ګټه اخيستونکي لرودل.

# درملنه

د رواني روغتيا برنامې يو له مهمو  پيغامونو څخه دا دی چې رواني روغتيا د درملنې  وړ ده او کولای شو چې ټولنيز-رواني معلوليت درملنه وکړو، د همدې لپاره مونږ ارزانه او د لوړ کيفيت لرونکو ټولنيز رواني روغتيا خدماتو ته وده ورکوو او هغه د نورو لپاره په يوه بيلګه بدلو. زمونږ د ټولنيزې رواني روغتيا پروژې ترڅنګ - چې د وکالت په برخې کې کولاې شې د دې موضوع  په اړه لا ډير معلومات ترلاسه کړې – زمونږ د کوچنيانو او نويو ځوانانو رواني روغتيا پروژه (CAPP) او ټولنيز روغتيايي مشاورينو پروژه (HSCP) هم په تداوي کولو باندې تاکيد کوي. د CAPP پروژه ماشومانو او ځوانانو ته د درملو په برابرلو کې مرسته کوي، او HSCP هم په ټول افغانستان کې د کيفيت لرونکو خدماتو برابرلو په موخه مسلکي کسانو ته روزنې ورکوي.

## دکوچنيانو او نويو ځوانانو د رواني ناروغيو پروژه

د IAM د کوچنيانو او نويو ځوانانو د رواني ناروغيو پروژې کارکونکي (CAPP) هڅه کوي ترڅو رواني - ټولنيز معلوليت باندې اخته ماشومان (CPSDs) ټولنې کې شامل او د هغوي رواني روغتيا ته وده ورکړي. پروژه د ټولنې په کچه د رواني روغتيا جامع خدماتو نشتون، د ټولنيز محروميت لوړه کچه – چې د ښوونځيو محروميت پکې هم شامل دی - او هغه منفي ستونزې لمنځه وړي چې په رواني ناروغۍ اخته ماشومان ورسره مخامخ دي.
پروژه همدارنګه د CPSDs او د دوي کورنيو سره مرسته کوي ترڅو د دوي رواني روغتيا درملنه وکړي او په ټولنې کې د هغوي ونډې ته هم وده ورکړي، ترڅو هغوي وکړای شي چې د ټولنې د غړو په توګه د خپلو اساسي حقوقو څخه ګټه پورته کړي. پروژه همدارنګه د ټولنې رضاکارانو، د کليو شوراګانو او سيمه ييزه کارکونکو په مرسته د ټولنې هغه غړو ته رواني روغتيا خدمات رسوي، چې لدې خدماتو محروم دي.
زمونږ په خدماتو کې د اضطراب، خپګان، د ډير فعاليت له کبله د پام نشتون ناروغي، اوتيزم، د چلند او خوب اختلالات لپاره درمل او مشورې شاملې وي.

د کوچنيانو او نويو ځوانانو د رواني ناروغيو پروژې فعاليتونه په اوږد مهاله پايلو باندې د تمرکز لپاره ډيزاين شوي ترڅو د کوچنيانو سره په پاليسيو، اخلاق، چلند او اړيکو برخو کې، بنسټيز بدلون رامنځته کړي.
د ټولنې او کليو په کچې فعاليتونو کې چې مونږ تمه لرو د چلند د بدلون لامل به شي - لکه ښوونځيو ته د ميرګي ناروغۍ لرونکي ماشومانو ته د تګ اجازې ورکول دي، او د چلند بدلونونه - لکه د ماشومانو لپاره د درملو پيرودل - کيدای شي په يو عادت او نورم بدل شي او د پروژې پای ته رسيدو وروسته به هم دوام وکړي. دومداره بدلونونه د تلويزيوني او راډيويي برنامو په جوړولو سره لا نور هم ډير رواج او عادي کيږي، د هغه شان کيسو ته پوښښ ورکوي چې د خپلو کوچنيانو سره يې خپلو کړنو کې بدلون رامنځته کړې دې، او دا چې ځنګه  ټولنه کولای شي د ټولنيز بدلون کې برخه واخلی دغه ډول بدلونونه د دغه خپرونو په وجه رامنځ ته کيږي.
په هغه سيمو کې چې زمونږ رضاکاران کار کوي د خلکو په ظرفيت کې د پورته موضوعاتو په اړه دپام وړ مثبت بدلون راغلی دی.
د حقوقو د غوښتلو ډلې مو جوړې کړې تر څو و کولای شي د سيمه ايزو چارواکو سره په اسانۍ خپلې ستونزی شريکې کړي او  په رواني - ټولنيز معلوليت باندې اخته ماشومانو CPSDs په برخه کې په ښه او فعاله توګه خپل فعاليتونه وکړي .

سږکال، د COVID-19 وبا له امله، مو د پروژې فعاليتونه او پلان  له سره تنظيم کړل، خپل کاری پلانونه مو د کرونا وبا په موضوعاتو او اړوند مسايلو پورې وتړل، د پروژو هغه فعاليتونه چې زياتو کسانو پکې ګډون کوو، په ورو ګروپونو تقسيم کړل ترڅو د کرونا په وجهه ټولنيزه فاصله مو مراعت کړې وي، په خپلو کاری پلانونو کې نوې فعاليتونه شامل کړل، د بيلګې په ډول د کرونا په دوره کې د رواني فشار مديريت، د ميندو او پلرونو لپاره د کرونا په لړ کې دخپلو ماشومانو سره د اړيکو په برخه کې مو روزنيز ترينګونه په لاره واچول .د CAP  او رواني روغتيا کارکونکو په رسنيو کې د عامه پوهاوي کارونو کې په پراخه توګه برخه واخيسته. سيمه ييزه رسنيو هم زمونږ خپروني په پورته برخو کې په وړيا توګه خپرې کړې.

### په 2020 کال کې د CAP مهم ټکي

- د کرونا وبا په وخت کې د ټولنيز واټن په اړه د عامه پوهاوی په غونډو کې مو ګډون وکړ.
- مونږ د ميندو او پلرونو سره له نږدې کار وکړ تر څو هغوي د خپلو کوچنيانو ستونزې له مونږ سره شريکې کړي.
- پلرونو او ميندو د CAP او د ښې روزنې پروژو له خوا په آنلاين ښوونيزو برنامو کې ونډه واخيسته او ژمنه يې وکړه چې خپل تربيوي ميتود ته به په خاصه توګه د قرنطين په مودې کې وده ورکوي او په دی برخه کې به کار کوي.
- زمونږ د پروژو رضاکارانو او والدينو د IAM دفتر د انلاين برنامو په اړه خپلو ګاونديو ته معلومات ورکړ تر څو هغوي هم له دغو برنامو څخه ګټه واخلي.
- پلرونو او ميندو د CAP پروژې خدماتو ترلاسه کولو لپاره خپل هغه ماشومانو راوړو ته دوام ورکړ چې په رواني-ټولنيز معلوليت باندې اخته ول.
- د ټولنو غړو ته د پلرونو او منيدو لپاره د آنلاين خدماتو شتون په اړه د معلومات خپرول.
- د پروژې کارکونکو د والدينو او د محلی شوراګانو سره د PPSDs او CPSDs په شمول په ټولنې کې د ټولو د ونډې اخيستلو د ارزښت په اړه د کليو په سطحه لازمی مشوری وړاندې کړې.
- د رسنيو ځانګو همکارانو چې ورته د ماشومانو حقوقو په اړه روزنې ورکړل شوې وې د ماشومانو ملاتړ ته يې د کرونا وبا په مودې کې په خاصه توګه پاملرنه وکړه.
- ښوونځيو په خپل تولګيو کې د CPSDs د رواني ستونزو لرونکي کوچنيانو شاملولو په اړه عملي نظرونه شريک کړل، لکه د ښوونکو روزنه او د زده کونکو هڅول ترڅو د نورو ماشومانو په توګه CPSD هم په خپلو ټولګيو کې شامل کړې.

### د 2020 کال ارقام

- د CAP پروژې دلارې د کلينيکونو لومړني پاملرنې 21 کارکونکو ته روزنې ورکړل شوې.
- 1152 هلکانو او 1137 نجونو د CAP خدمات ترلاسه کړې.
- د پلرونو او ميندو 5 خپل منځني حمايوي ډلې جوړلې شوې.
- 2300 سړو او 1900 ښځو د عامه پوهاوي برنامو کې ګډون وکړ.
- 190 سړي او 247 ښځو د وکالت او خپلو حقوقو غوښتلو اساساتو په اړه روزنې ترلاسه کړې.
- 29 هلکان او 84 نجونې د پرمختللي خدماتو ترلاسه کولو په موخه د نورو موسساتو له خوا د CAP مرکز ته را استول شوي دي او ترينګونه يې ليدلي دي.
- 72 سلنه رضاکاران ښځينه وې چې د CAP پروژې سره يې د فعاليتونو په برخه کې  مرسته کړی. د ښځينه رضاکارانو په مرسته د کليو ميرمنو وکولای شو د پروژې فعاليتونو ته لاسرسی پيدا کړي.
- زمونږ د فعاليتونو 90 سلنه غړي ميرمني دي. چې د دغو ډلو ښخينه غړيو د شورا او په نورو غونډو کې ګډون وکړ او خپلې اړتياوی او ستونزی يې دخپلو کليو په سطحه له شوراګانو سره شريکي کړي.
- د دغې پروژې 49 ګډونوال او ګټه اخيستونکي ښځې وې.

# د ټولنيز روغتيايي مشاورينو تربيوي پروژه

سږکال، موږ د ټولنيز روغتيايي مشاورينو تربيوي پروژې (HSCP) دوهم کال ته دننه شوه. دا يوه روزنيزه پروژه ده چې ټولنيزو مشاورينو ته د بيلابيلو کلينيکونو څخه روزنه ورکوي. ترڅو روغتيا ټولنيز مشاورينو (HSCs) ته ارتقا او ظرفيت يي لوړ کړي، موږ د لاسرسی وړ روغتيايي خدماتو په برابرولو کې مرسته کوو دغه کار د لومړني روغتيايي خدمات (BPHS) په تاسيساتو کې د ټولنيز روغتيايي مشاورينو روزنې له لارې د ټولنې په کچه ترلاسه کيږي. د روغتيا NET / TPO سره په همکارۍ سره، IAM په پام کې لري ترڅو د افغانستان په ټولو ولايتونو کې 190 PSCs و روزي او د دوي د زده کړو سطحه HSCs ته لوړه کړي. د 9 واليتونو څخه (هرات، فراه، بادغيس، غور، نيمروز، کندهار، هلمند، ارزګان او زابل) 45 PSCs د هرات په ولايت کې په روزنه بوخت دي.

ګډون والو ته په پښتو او دري ژبو کې روزنه ورکړې شوې، چې سږ کال پکې 22 ميرمنو او 23 نارينو ګډون کړې وه. د دوي روزنيز کورس يو کال دی، چې روغتيايي تاسيساتو کې ورته 6 مياشتې نظري روزنې او 6 مياشتې هم عملي روزنې وړاندې شوي. د کاري ساحی تنظيمات او موخې د هرو درېو سمسټرونو لپاره په ټولګي کې چمتو شوي وي. د برنامې په پای کې، د رواني - ټولنيزو مشورو خدماتو سريره چې برخه اخيستونکي دمخه ورسره بلد ول، برخه اخيستونکي به د ماشومانو د کار، د ادراکي چلند درملنې (CBT)، مشورو ورکولو، د توبرکلوز ناروغانو سره د کار کولو، AIDS، ملاريا، د زړه او شکر ناروغۍ او د ماشومانو، ځوانانو، کورنيو سره په فردي او ډله ييز ډول د کار کولو وړتيا ولري. دوي ته به د مسلکي اخلاقو او ارزښتونو په اړه هم روزنې ورکړل شي او د هغوي مهارتونه به هم د سرچينو په موندلو کې چې د مراجعينو اړتيا لپاره اړين دي لوړشي.

د برنامې په لړ کې، د ټولنيز روغتيايي مشورې زده کونکي د خپلو روزنکو له خوا ارزيابي کيږي او د مراجعه کونکو سره د دوي د کار بياکتنه کيږي، کله چې زده کونکي خپلو کلينيکونو ته ستنيږي بيا دوي ته د تليفون له لارې اسانتياوي برابريږي، او د دوی روغتيايي مرکزونو څخه ليدنه کيږي ترڅو دوي ته تخنيکي اسانتياوي هم برابر شي.

د ولاياتو په سطحه زده کوونکې په خپل منځ کې را ټوليږی او خپل د کار مثبته ټکي له يو بل سره شريکوي، په تير د 2020 کال کې څلورو ښوونکو 778 زده کوونکو ته په فردي ډول لارښوونه کړی او 13 مجموعي ناستی يي جوړې کړې دي



په يوې کارخونې کې د HSC روزني لپاره مشاورين راټول شوي دي

# وکالت

مور پوهیږو چې اوږدمهاله بدلون باید د ټولنې په ټولو برخو کې را منځته شي - په ښوونځیو کې دننه، دولت او پخپله ټولنه کې. له همدې امله زموږ د کار یوه برخه نورو موسساتو، دولت، او په خپله ټولنه کې د وکالت برخه ده، ترڅو د رواني روغتیا مسلو په اړه پوهاوی لوړ او په ټولنیز معلولیت باندې اخته خلکو (PPSDs) شاملول او ملاتړ وهڅول شي. کومه پروژه چې د درملنې سربیره په دغې برخې تمرکز کوي، د رواني روغتیا ټولنیزه پروژه (CBMHP) ده.

## د رواني روغتيا ټولنيزه پروژه

د CBMHP پروژه د ټولنو سیمه ییز ظرفیت لوړوي ترڅو په ټولنیز معلولیت باندې اخته کسانو (PPSDs) څخه په کورنیو، ټولنو، سیمه ییز او ثانوي روغتیایي خدماتو وړاندې کونکي مرکزونو کې ملاتړ او هماهنګي وشي. چې دا به په هرات ولایت کې رواني روغتیا کارونو، او د رواني روغتیا کړني سمې او چلندونو ته به وده او بدلون ورکړي.

د PPSDs د ملاتړ برابرولو لپاره د CBMHP پروژه د ټولنو شته شوراګانو سره هماهنګي کوي. دا شوراګانې بیا سرچینې تنظیموي ترڅو د ټولنې د غړو څخه ملاتړ وکړي.
پدې کال کې د CBMHP پروژې د PPSDs، د هغوي کورنیو، او د ټولنې رضاکارانو سره ګروپونه جوړکړي. دغو ګروپونو د محلي شوراګانو په غونډو کې برخه واخیسته ترڅو د ټولنې په کچه د PPSDs اړتیاو لپاره اسانتیاوې برابري کړي، چې هم د خپلې تولنې شورا او هم د سیمه ییزو خدماتو وړاندې کونکو څخه پدغه برخه کې د مرستې غوښتنه وکړه. زموږه موخه دا ده ترڅو په هرې ټولنه کې د ګډو ناستو له لارې د دغو ډلو ترمنځ شبکې جوړې او اړیکې رامینځته کړو. د دې ډلو غړو د وکالت په روزنو کې برخه اخیستې، د شته سرچینو څخه باید څرنګه کار واخیستل شي، او دوی څنګه ټولنې تنظیم کولې شي ترڅو په ټولنه کې هغه افراد چې رواني ستونزې لري مدغم کړي.
CBMHP پروژه په هغو کلیو کې چې زموږ تریوښښ لاندې دي د ګرځنده ټیم کارکونکو په مرسته رواني روغتیایي خدمات وړاندې کوي. په رواني ټولنیز معلولیت باندې اخته کسان او ماشومان (PPSDs/CPSDs) زموږ محلي مرکزونو ته راځي او خدمات ترلاسه کوي. پروژه د ټولنیزو رضاکارانو (CVs) او د ټولنیز کارکونکو (CMs) له لارې د PPSDs/CPSDs لپاره ټولنیز خدمات برابروي. د سیمه ییز جوړښتونو (شوراګانو، رضاکارانو،

> ”د IAM موسسې د CBMHP پروژې له خوا د عامه پوهاوي لوړلو وروسته، زموږ خلک د رواني روغتیا په اړه اوس ډیر معلومات لري. دوي اوس د نورو سره بد چلند نکوي او که کومه ستونزه ولري د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره ټولنیز مرکز ته راځي.“
>
> معصومه* د پروژې ګډونواله

موسساتو او د ټولنې میشته سازمانونو) او IAM رواني روغتیا برنامې ترمنځ د ټولنې په کچه شبکې رامینځته شوي. زموږ رضاکاران او ټولنیز کارکونکي له هغه کسانو سره له نږدې کار کوي چې رواني ستونزې لري او د دوي کورنیو سره کار کوي ترڅو د دوي ټولنیز، کړنیز، کلتوري، ښونیز او اقتصادي تشو او ستونزو سره مقابله وکړي. دوي د محلي شوراګانو سره منظمې ناستې لري ترڅو په خپلو ټولنه کې د PPSDs/CPSDs هغه کسان شامل کړي چې رواني ستونزي لري.

د کرونا ویروس د ننګونه له امله، زموږ ټولې روزنیزي برنامې او د پروژې ډلیزې ناستې په کوچنیو ډلو کې ترسره کیدې ترڅو ټولنیز واټن او نور وقایوي اقدامات رعایت شي. موږ خپل پلانونه یو ځل بیا ترتیب او تدوین کړل، پدغو پلانونو کې د کرونا په هکله نوي کارونه لکه د ویروس د مخنیوي، د استرس مدیریت، او د قرنطین په موده کې د ماشوم ښه روزنه، د پلرونو او میندو لپاره د پیغامونو خپرولو له لارې د عامه پوهاوي لوړول پکې شامل ول. د CBMHP او د رواني روغتیا نورو کارکونکو په رسنیو کې د رواني روغتیا اړوند موضوعاتو خپرونو کې په پراخه کچه ګډون وکړ ترڅو خلکو ته پدې اړه لازم معلومات ورکړي. سیمه ییزه رسنیو د رواني روغتیا اړوند خپروني په وړیا توګه خپرولې.

د یوې پراخې رواني برنامې د یوې څانګې په توګه، CBMHP پروژې د ټلیفون له لارې د هرات ولایت اوسیدنکو ته آنلاین خدمات برابر کړل. موږ د کرونا روغتون کارکونکو ته د شخصي ساتنې تجهیزاتو (PPE) او د ټولنې په کچه د لومړني روغتیایي خدماتو بستې (BPHS) برابرې کړې. موږ د کرونا ناروغي روغتون کارکونکو او د BPHS کلینیکونو ته د ټولنیزو بیړنیو مرستو (PFA) روزنې هم برابرې کړې دي، ترڅو خلک د ټولنې په کچه ټولنیز ملاتړ ته لاسرسي پیدا کړي او د اړتیا په صورت کې روغتونونو ته ولیږل شي.

### په 2020 کال کې د CBMHP مهم ټکي

- په ټولنیز - رواني معلولیت باندې 380 نویو کسانو رواني روغتیا خدمات ته لاسرسی پیدا کوو.
- په ټولنیز - رواني معلولیت باندې اخته 3351 کسانو غونډې تعقیب کړې.
- په ټولنیز - رواني معلولیت باندې اخته 518 نویو ماشومانو د رواني روغتیا خدماتو څخه ګټه واخیسته.
- په ټولنیز - رواني معلولیت باندې 1971 کسانو تعقیبي غونډې ترلاسه کړې.
- په ټولنیز - رواني معلولیت باندې 3029 نویو کسانو او د هغوی کورنیو د کرونا د استرس مدیریت په اړه آنلاین مشورې ترلاسه کړې.
- 236 کارکونکو د رواني-ټولنیز لومړنیو مرستو په اړه روزنې ترلاسه او ترسره کړې.
- د ټولنې 60 رضاکارو د CBMHP د کارونو څخه په ملاتړ کې مرسته وکړه.
- د PPSDs او د هغوی د کورنیو څخه د ملاتړ شپږ ډلې رامنځته شوې.
- 185 ټولنې رضاکاران، د کلي د شورا غړي، د PPSDs او د هغوی کورنیو ملاتړ کونکي ډلې او موسساتو/د خدماتو وړاندې کونکو د رواني روغتیا، وکالت، جنسي برابرۍ، پوهیدلو او پوهولو او د چلند بدلون په اړه روزنې ترلاسه کړې.
- 8809 کسانو د رواني روغتیا، او د معلولو کسانو د حقوق (CRDP) د وکالت او هوکړه په اړه حساس شوي
- د رواني روغتیا په اړه 1350 معلوماتي او ارتباطي توکي په ټولنو باندې ویشل شوي





# 2020 زموږ د زده کړې برنامه



زموږ د زده کړې برنامې کارونو په هکله په دغه ځای کې
iamafg.org/education لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ!



# Silk Road English Centre Writing Contest

مور د لیکنۍ یو مسابقه په لاره واچوله چې د زده کونکو څخه مو پوښتنه وکړه، "د ژوند غوره مشوره مو کومه یوه ده او دغې مشورې ستاسو په ژوند کې کوم بدلونونو رامنځته کړل؟" د SREC پروژې کارکونکو د دغې لوبې ګټونکې وټاکل او ورته یې یو ټابلیټ د جایزې په توګه ورکل.

During the Taliban war like many other afghan people we also immigrated to one of the neighbor's country. I was a little child but I do remember some events which I saw on the way to Pakistan. One of the worst incidents that I will never forget is when the name of the Taliban are mentioned. As we all know that watching movies, making videos or taking photos from the weddings and many other events are against the Taliban laws, so when they saw someone having these things they will definitely hit the person so badly. We were on the way, Taliban stopped our bus and one of our relatives had a video which was hidden on a small pillow of her son, when they got into the bus and found that video, they hit the woman by gun badly, I and other children were very scared. That scene was the worst for me as a child.

Fortunately we arrived to Pakistan after going through many difficulties. We rented a house which had just four rooms and a





small yard, we were more than six families but we lived on that house for some days, after that some of them left and rented another house but

"When she noticed that we were not at any school she gave us an advice 'You should start school'"

we stayed on that house with my uncle's families. After a while my uncles started to weave carpets and forced us to help them with weaving. In some afghan families the children have to accept what the elders decide so did I, my sister and I weaved a carpet with my uncle.

One day I met a young and cheerful girl, she was the owner of our house's daughter and she lived above the house we have rented. She invited me and my sister to her house and played with us a lot, after playing she cooked Beriani which is one the famous food in Pakistan, during lunch she asked: are you going to school? We didn't have any answer to give her because we were not at any school on that time. When she noticed that we were not at any school she gave us an advice "You should start school". After a while we left her house and came to home and talked to my mother we said "we want to go to school", my mother was surprised and said: I am happy hearing that and I will talk to your father about it. But we knew she was a little scared to share this issue to other people in home because we were born in a family where every girl was illiterate and they were not allowed to attend school, my mother dared to share this issue with others and told them that "I want my daughters to be literate". At first my uncle was against that decision but my big aunt who was bigger than my uncle told him "I don't want my niece will be illiterate like me". Then my mother enrolled us in school.

Hopefully we started school and even got my bachelors now I am preparing for my masters. This was the biggest advice I received from a great

"We were born in a family where every girl was illiterate and they were not allowed to attend school, my mother dared to share this issue with others and told them that 'I want my daughters to be literate'"

girl which changed my whole life. I remember her name and want to meet her again if she will be alive and if I could find her I will thank her differently because on that time I was a child and didn't know the value of this great advice which help me to be an literate independent girl. I pray for her all the time I will remember her always, Allah bless her wherever she is.

# د ښځینه ښوونکو

## د مینا کیسه

نورو هیوادونو سره پولې تړل کیږي، الوتنې لغو کیږي، او په ټولې دنیا کې ګڼ شمیر ښارونو قرنطین کیږي، دا ټول د وبا لپاره دي. خو د افغانستان په یو کوچني کلي کې چې برښنا او انټرنټ ته لاسرسی نلري، خلک په څرنګه د دغو نړیوالو ګواښونو څخه خبر شي؟

مینا، چې د ښځینه ښوونکو روزنې پروژې کې درس وایي اوس په خپل کلي کې ده، په نوي کال کې کلي ته را تللې وه، او ورته وویل شول چې بیرته راستنه نښی، ځکه چې ټول ښوونیز او روزنیز بنسټونه د کرونا په خاطر تړل شوي ول. کله چې هغه د FTEP څخه کور ته تله، هغې ته ځیني پوسټرونه ورکړل شول چې د کرونا څخه د مخنیوي په هکله د IAM له خوا چاپ شوي وو.



د وبا په وخت کې د خپلې ټولنې څخه د ملاتړ په هیله، مینا د دولت د هغو کارونو په هکله خبره شوه چې په کلي کې د کرونا په هکله د معلومات خپرول ول. د کرونا په هکله د مینا پوهاوی په FTEP کې د دغه ویروس په هکله په معلوماتي غونډو کې د ګډون له کبله لوړ شوی وه، د همدې کبله مینا غوره شوه ترڅو نږدې کلیو ته سفر وکړي او د کرونا په اړه معلومات خپاره کړي. مینا د ګڼ شمیر کلیو مشرانو سره وکتل، ترڅو هغه وکړای شي د کلي ښځو سره وګوري او هغوي ته د کرونا او د هغه څخه د مخنیوي په هکله معلومات ورکړي. مینا په جوماتونو کې او د خلکو په کورونو کې ښځو سره لیدل او هر ځل یې 15 یا 20 ښځو ته درس ورکاوه.

په خپل کلي کې د کرونا احتمالي او ناڅاپه خپریدو څخه اندېښنې مینا وهڅوله ترڅو د خپل کلي مشرانو سره خبرې وکړي، او د هغو کسانو څخه چې مالي توان لري پیسې راټولې کړي ترڅو په کرونا باندې اخته احتمالي ناروغانو سره مرسته وشي.

ژوند د مینا لپاره اسانه نه و. کله چې هغه 9 کلنه وه مور یې مړه شوه، او کله چې مشرې خورې یې واده وکړ، په کور کې هغه یواځنې نجلۍ وه، او د کور ټول کارونه هغې ته وسپارل شول. کله چې د FTEP کارکونکي د هغې ښوونځي ته ورغلل ترڅو د پروژې په هکله خبرې وکړي او دا چې دغه پروژه لپاره پلرونه خپلو لوڼو ته اجازه نورکوي چې د کور څخه بهر شي او په ښار کې د نجونو لیلې کې شپې تیرې کړي. د FTEP ښځینه کارکونکو د پلرونو سره خبرې وکړې او هغوې یې وهڅول ترڅو خپلو لورانو ته اجازه ورکړي چې په دغې پروژې کې ګډون وکړي. زموږ کارکونکو هغوې ته وویل چې په پروژې که د ګډون له کبله د هغوې نجونې روزل شوې او پیژندل شوې ښوونکې شي، او د ښوونکو په توګه به خپلو کلیو ته د خدمت لپاره راستنې شي، البته په دغه وخت کې به د دوې لید د راتلونکې په اړه او د هغه ماشومانو په خاصه توګه نجونو لید چې دوي ورته زده کړې برابروي ډیر پرمختګ وکړي. د لګ مودې په تیریدو او د خبرو کولو وروسته، بلاخره پلرونه قانع شول، او ځوانې نجونو د راتلونکې په اړه د هیلې لرل پیل کړ.

په FTEP پروژه کې د دوه کاله زدکړو وروسته، زده کونکي به په 2021 کال کې بیرته خپلو کلیو ته ستانه شي. مینا د هغې مودې په هکله فکر کوي چې هغه په ښوونځي کې وله. هغه یواځنۍ نجلۍ په لوړو تولګیو کې وه. خو دو کاله وروسته په دغه کلي کې د مینا په خاطر، د هغې سخت کار، تعهد، د کلي څخه پاملرنه، او وړتیاو ډیر خلک و هڅول او وار دمخه یې ډیر بدلون رامنځته کړی. لورانو ته اجازه ورکړل شوه ترڅو ښوونځي ته لاړې شي، او په عمر زیاتو ښځې هم د لومړي ځل لپاره وکړای شول چې د سواد زدکړو کورسونو پیدا کولو په موخه د خپلو کلیو څخه بهار شي. مینا، چې پوه شوه دغه ښځې تذکرو ته اړتیا لري، نو هغوی سره یې مرسته وکړه چې خپلې تذکرې ترلاسه کړي ترڅو په ټولګیو کې ګډون وکړای شي.

مینا او د FTEP ټول کارکونکي او زده کونکي سترګې په لار دي چې 2021 به کوم بدلونونه رامنځته کوي.

غواړي ښځینه ښوونکو ته روزنه ورکړي ترڅو په کلي کې نجونۍ لوړ کیفیت لرونکي زده کړو ته لاسرسی ولري، هغې ته امید را پیدا شو. که پلاریې اجازه ورکړي نو کیدای شي په دغې پروژې کې ګډون وکړي. هغې د نورو ځوانو نجونو په هکله هم فکر کاوه چې کیدای شي په دغې پروژې کې د ګډون لپاره په شرایطو برابرې وي، او کله چې خبره شوه چې د دغه نجونو پلرونه هغوې ته اجازه نه ورکوي، نو پریکړه یې وکړه چې په خپله باید دغه ستونزه حل کړي.

هغې د FTEP کارکونکي او د کلي څخه ګڼ شمیر پلرونه ته بلنه ورکړه ترڅو د هغې کور ته ورشي. د ځوانې نجلۍ پسې چې د شپې له خوا د خپل کورنۍ څخه بهر وي ډیر زیاتې خبرې کیږي، د دې سریره شایعه هم په لوړې کڅې سره رواج لري. د همدې

# روزنې پروژه



د ښځینه ښوونکو روزنې پروژه، یا، FTEP، د دې لپاره جوړه شوې ترڅو زده کړو ته د نجونو د لاسرسي موضوع حل کړي. یو اصلي لامل چې په کلیو کې نجونې ښوونځي تګ ته زړه نه ښه کوي په ښوونځیو کې ښځینه ښوونکو نشتون دې، په خاصه توګه بیا په لوړو ټولګیو کې ښځینه ښوونکې نشته.

د دغې ستونزې حل لپاره، FTEP کلیو څخه لیدنه کوي او د کلي مشرانو او ښوونځیو سره په ګډه ځوانې نجونې انتخابوي چې د 12 ټولګي څخه فارغې وي. دغه نجونې د خپلو پلرونو څخه د اجازې اخیستلو وروسته په مزار ښار کې په لیلې کې شاملیږي، چیرته چې د دولتي ښوونکو د روزنې مرکز او د FTEP له خوا په سمه توګه روزل کیږي، ترڅو وروسته د دوه کلونو، دغه ځوانې نجونې په شرایطو برابرې، او ښه روزل شوې ښوونکې شي، چې په زده کونکي باندې د تمرکز میتود څخه په ګټې اخیستنې سره زده کړې برابرې کړي. کله چې دغه نجونې په خپلو کلیو کې ښوونکې شي، د FTEP کارکونکي د هغوې د ټولګیو ارزیابي او هغوې ته د لارښونو له لارې د دغه نجونو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. تمه کیږي چې دغه ځوانې نجونې به نه یوازې په خپلو کلیو کې نورو نجونو ته زده کړې برابرې کړي بلکې کلي به هم ښه روزل شوي او لوړ کیفیت لرونکي استاذانې ولري. دا به کلیوالی سیمو کې د زده کړو کیفیت لوړ کړي او دغه ځوانې ښوونکې به په کلي کې د مثبت رول بیلګې او د ښځو د ظرفیت په اړه یو ثبوت وي.

سږ کال زموږ کارکونکو ته یو لړ روزنو سره پیل شوه چې پر بیلابیلو موضوعاتو لکه، د ښځو پیاوړتیا، زدکړه، د زده کونکو عاطفي پوهاي لوړول، او دا چې په ټولګي کې د فکر کولو مهارت څرنګه لوړ کړو. وروسته بیا زده کونکي د خپلو ژمنیو رخصتیو څخه راستنې شوې او پوروه وخت تولګي پیل شول، چې د انتخابي مضومونو په هکله معلومات په کې شامل ول لکه اوبدل او هنر. موږ فکر کاو چې زده کونکي به د نوي کال نمانځلو لپاره خپلو کلیو ته ولاړ شي خو فکر مو نکاوه چې موږ به ونشو کړای هغوي د ۵ میاشتو لپاره ووینو، ځکه چې د دولت له خوا ټول زده کړیزو بنسټونو وتړل شول ترڅو د کرونا څخه مخنیوي وشي. پروژه ودرول شوه او موږ خپلې هلې ځلې پیل کړی ترڅو د خپلو زده کونکو ته په داسې یو هیواد کې د ملاتړ برابرولو لپاره یو استراتیژی پیدا کو چې یوازې 9 سلنه کلیوال انترنت ته لاسرسی لري. کارکونکي د کرونا وبا په وخت کې د کورني زده کړو لپاره په موادو راټولولو او زده کونکو ته د دغو مواداو استولو باندې بوخت شول ترڅو زده کونکي په خپلو کورنو کو خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

دا زموږ د زده کونکو لپاره د حیرانونکې ودې او تحقیق موده وګرځیده، چې د اړتیا پر بنسټ یې باید د زده کړې خپلواکه مهارتونه زده کړي وای. د هغوې د کلي خلک به د مرستې غوښتل لپاره دوې ته راتلل او زده کونکي مجبور ول ترڅو د هغوي پیچلې ریاضي ستونزې حل کړي یا هم د انګلیسي ژبې څخه یو موضوع ورته راوژباړي. یو لګ شمیر زده کونکو چې انترنټ ته یې لاسرسی درلود، په آنلاین درسي پرواګرام کې د ریاضیاتو زده کړې په برخه کې یې ګډون وکړ او په فعاله توګه یې به بحثونو کې ونده اخیستله. هغوې د ډله د زده کړو لپاره ډیرې ګټورې ثابتې شوې. نورو زده کونکو هم په خپلو کلیو کې د کرونا په اړه د پوهاوي لوړولو او د هغه څخه د مخنیوي لپاره سیمینارونه وړاندې کړ.

دغه اوږد مهاله رخصتي او پرته د FTEP اصلي ساختار څخه د پرمختګ او تحقیقاتو وخت وو. دغه وخت د ټولو لپاره د دمې په شان وو او کله چې په اګوست میاشتې کې ښوونیز مرکزونو بیا پرانستل شول او زده کوونکو وکړای شول بیا لیلې ته راستنه شي. د پام وړ خبر دا ده چې زده کونکي لاهم د ښوونکو د روزنې درسونو پای ته رسولو لپاره په سمه روان ول. د وروستنۍ آزموینه خلاصولو او د مونوګرافونو لیکلو ورووسته هغوې د کال په ختم کې د خپل کورس څخه فارغې شولې.

**د 2020 کال مهم ټکي:**

- د کوویډ - 19 وبا په لړ کې، په کور کې د زده کړو لپاره 90 چپټرونه چمتو شول او د زده کونکو کلیو ته واستول شول.
- 45 زده کونکو خپلې وروستي آزموینې خلاصې کړې، خپل مونوګرافونه یې ثبت کړل، او د دولتي دارالمعلمین څخه فارغې شول.
- د ټولنیز او عاطفي زده کړو موضوع معرفي شوه او زده کونکو په خپل فکر کول، بشپړیدل، او د نورو سره په اړیکو کې پرمختګ درلود.
- د احساساتي هوښیارې د رامینځته کولو په برخو کې د کارکونکو روزنه، او دوی زده کړ چې څنګه باید زده کونکي په ټولګي کې د ځان لپاره فکر وکړي، څنګه باید په افغانستان کې مسلکي کاري میرمنې اوسو، روزنې ته لاره پیدا، او د صحي تغذیه او خواړه په اړه یې هم زده کړې ترلاسه کړې.
- 24 زده کونکو د ښوونکو دولتي امتحان کې ګډون وکړ او کامیابې شوې.

# د وریښمو لارې

# انګلیسي ژبې ښوونیز مرکز

**په وریښمو لارې مرکز کې مور غواړو مطمئن شو چې افغانان په تخصصي توګه په نړیوالو ارتباطاتو، اړیکو، زده کړو، تجارت، او جامع پرمختګ کې ګډون وکړای شي – هغه لید چې مونږ به ورته د 2021 کال په لړ کې هم کار کو.**

ګڼ شمیر افغانان هڅه کوي ترڅو د انګلیسي ژبې په مرسته خپل ښوونیزې او کاري وړتیاوې لوړې کړي. په انګلیسي ژبې باندې ښه بلدتیا اوس هم د ګڼ شمیر دفترونو له خوا یوه لویه اړتیا شمیرل کیږي. په ورته وخت کې، لوی شمیر افغانان غواړي ترڅو خپلې ماسترۍ د هغه هیوادنو څخه ترلاسه کړي چې په انګلیسي ژبې باندې زده کړې ورانډې کوي. دې دوه فکتورونو د انګلیسي ژبې کیفیت لرونکي ښوونې لپاره غوښتنه رامینځته کړې، چې د وریښمو لارې مرکز یې ځوانو زده کونکو ته برابره وي.

پداسې حال کې چې په مزار کې د انګلیسي ډیر کورسونه شتون لري، SREC یو له هغه ځایونو څخه دی چیرې چې زده کونکي کولای شي د بهرني ښوونکي سره زده کړه وکړي. SREC زده کونکو ته دا وړتیا ورکوي چې په سیمه ییزو کورسونو کې د زده کړې او هغه څه ترمنځ چې د مسلکي انګلیسي کچې کار کولو لپاره دوی ورته اړتیا لري فاصله کمه کړي. دا یو داسې ځای هم دی چیرې چې دوی خپل نظرونو شریکوي، نوي نظرونو زده کوي، او ارزښتناکه علمي مهارتونو لکه د مقالو لیکل او نوښتګر فکر کول زده کوي.

زموږ د زده کونکو لویه برخه په شپږو میاشتنیو کورسونو کې ګډون کوي چې په اوریدولو، ویلو، لیکلو، او خبرې کولو باندې تمرکز کوي.



د 2020 کال مهم ټکي

- د کرونا ویروس د بندیزونو له کبله، د SREC پروژې باید خپل تولګي د شپږو میاشتو لپاره ځندولي واې. د نیکمرغه، کله چې د SREC پروژه بیا پیل شوه، ګڼ شمیر زده کونکي وتوانیدل بیرته خپلو درسونو ته راستنه شي.
- موږ د لیکنې یو مسابقه په لاره واچوله چې د زده کونکو څخه مو پوښتنه وکړه، "د ژوند غوره مشوره مو کومه یوه ده او دغې مشورې ستاسو په ژوند کې کوم بدلونونو رامنځته کړل؟" د SREC پروژې کارکونکو د دغې لوبې ګټونکې وټاکل او ورته یې یو ټابلیټ د جایزې په ټوګه ورکل.
- 51 سلنه زده کونکې ښځینه وې.
- 21 زده کونکو زموږ د منځنۍ پړوا څخه مخکني ټولګي کې ګډون وکړ.
- 40 زده کونکي زموږ د منځنۍ پړوا څخه وروستني ټولګي څخه فارغ شول.

# د سولې جوړونې پروژه

**زموږ د سولې جوړونې پروژه باور لري چې د ټولنیزې سولې سرچینه په فردي سوله کې ده. موږ افغان ځوانان په هغو وسایلو او مهارتونو باندې سمبالو چې په ټولنې کې د سولې رامنځته کولو په برخې کې ورته اوس او په راتلونکي کې اړتیا لري.**

د کال په پیل کې موږ د څلورو ښوونځیو سره چې د کابل 5 ولسوالیو څخه دي خپلې اړیکې پیل کړې چې درې د هلکانو او یو د نجونو ښوونځي پکې شامل دي. د روزنکو دوه درې ورځنې روزنې (TOT) په لړ کې چې د ښونځیو 32 ښوونکو ته وړاندې شوي وه، ښونکو ته د شخړو پیژندل، د شخړو سټایلونه، د شخړې د حل وسیلې، د تاوتریخوالي څرخه او د سولې جوړونې، پوهیدل او پوهول، او د اړیکو ښه کولو په اړه زده کړې ورکړل شوې. د ژوند مهارتونو TOT په دوه پړوا کې په درې ورځو کې وړاندې شو چې 34 ښوونکو پکې ګډون کړی وه او د مهمو موضوعاتو په اړه لکه قهر، ناکامي، د روحي فشارونو پر وړاندې مقاومت، د همقطارانو له خوا د فشار او ځورونو پر وړاندې مبارزه، د وخت مدیریت، او د ژوند پریکړو په اړه ورته روزنې ورکړل شوې. د دې ترڅنګ، موږ ښوونکو ته ګټور میتودولوژي او درسي پلان برابر کړ ترڅو هغوي په ښوونځي کې خپل درسونه په لوړ کیفیت سره وړاندې کړي. موږ ټولګي هم په سمه توګه بررسی او ارزیابی کړل او هغه معلومات مو راټول کړل چې بیا وروسته د پروژې د موثریت ارزولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

2020 زیږدیز کال د کرونا نړیوالې وبا له کبله یو ګواښونکې کال وه، چې زموږ پر کارونو یې هم اغیز وکړ. د کرونا له کبله ښوونځي وتړل شول او زموږ د سولې جوړونې او ژوند مهارتونو ټولګي د اګوست میاشت تر پایه د قرنطین له کبله ترسره نشول. د کرونا قرنطین په لړ کې، زموږ د سولې جوړونې پروژې ځیني نوي نوښتونو پیل کړ لکه د رواني لومړنې مرستو (PFA) زده کړې چې د IAM موسسې 16 کارکونکو ته په 5 پړوا کې وړاندې شو. ګټه اخیستونکو ته هم د کرونا استرس سره د مبارزې او د خپل ځان ګوښه کولو څخه د مخنیوي په اړه زده کړې ورکړل شوې. او د سولې جوړونې پروژې درسونو په فلمي بڼه کې هم چمتو کړل ترڅو د قرنطین د مودې غزیدلو په صورت کې د هغو څخه ګټه واخلي. کرونا سره د مبارزې په خاطر موږ د (روان سالم) فسبوک پاڼه هم جوړه کړه، چیرته چې موږ د کرونا په اړه وروستني معلومات او رواني روغتیا په تړوا پیغامونه خپارو.





موږ د مزار امرار معیشت او پراختیایی پروژې (MLDP) کارکونکو ته هم د شخړو حل په اړه دوه ورځنۍ زده کړې ورکړې. د MLDP کارکونکو د شخړو په اړه، د شخړو پړاونه، د شخړو ډولونه، د پوهیدلو او پوهولو، بحث کولو، او د ستونزو حل د ګډې پروسې په اړه زده کړې ترلاسه کړې.

## د 2020 کال مهم ټکي

- • ښوونځیو 66 ښوونکو ته د ToT زده کړې وړاندې شوې، چې هغوي بیا وروسته د سولې جوړونې او د ژوند مهارتونو په اړه 1042 زده کونکو ته (234 ښځینه، او 809 نارینه) په 4 ښوونځیو کې زده کړې برابرې کړې.
- 19 اړونده فعالیتونه چې کارکونکو ته د رواني لومړنۍ مرستو (PFA) د زده کړو برابرول او وړاندې کول پکې هم شامل ول.
- د روان سالم فیسبوک پاڼه جوړه شوه چې پکې د کرونا او سولې جوړونې په اړه پیغامونو خپاره کیږي.
- د ښوونځیو زده کونکو لپاره سولې جوړونې په اړه ښوونیزه فلمونو جوړ شول.
- د مزار امرار معیشت او پراختایی پروژې (MLDP) ته د سولې جوړونې او شخړو حل په اړه دوه ورځنۍ زده کړې برابرې او وړاندې شوې.

# د کرونا سره مبارزه



زموږ د مشاورینو څخه یوې یې د آنلاین مشورتي ناستې ترسره کوي.

د کورونا ویروس ناروغي د 2020 کال یو لویه برخه وه، او موږ نشو کولی دغه کلنی راپور پرته د هغه لارو یادولو ختم کړو چې زموږ پروژې، برنامو او هغهو خلکو باندې یې اغیزه کړې چې موږ ورته خدمت کوو.

د IAM موسسه د پیل څخه وپېژندل چې د کرونا ویروس اغیزو پر وړاندې باید مبارزه وشي، او موږ خپل کارونو ته دوام ورکړ، ځکه چې غوښتل مو زموږ همکاران خوندي اوسیږي د بلې خوا موږ اړین احتیاطي تدابیر هم په پام کې نیولي وو، چیرته چې موږ خپل فعالیتونه تنظیم کړل ترڅو خلک د امکان تر حده خوندي او سالم وساتل شي.

مخکې لدې چې په هرات ولایت کې د کرونا لومړۍ پیښه تایید شي، موږ په هر ولایت کې یو ټیم جوړ کړ ترڅو کارکونکي د دغه ویروس په اړه خبر کړي، او د روغتیا نړیوال سازمان او د عامې روغتیا وزارت له خوا وقایوي پروتوکولونه تعقیب او پلي کړي. موږ د کرونا فوکل ډلو او د مشرتابه ټیم تر منځ منظمې غونډې هم ترسره کړې. د بیړنې ځواب په توګه، IAM هڅه وکړه ترڅو د ټولو کارکونکو ملاتړ وکړي او هغوي په ساتونکي او مخنیونکي توکو سمبال کړي. موږ هڅه کړې چې د IAM کارکونکو او په ټوله کې په ټولیزه کچه د دغې ناروغۍ رواني فشار راټیټ راکړو چې د رواني لومړنۍ مرستې روزنې چمتو کولو، د فشار مدیریت بروشرونو توزیع کولو، او د رسنیو له لارې د پوهاوي لوړولو سره مو دغه کار ترسره کړو.

د کرونا سره زموږ د مبارزې په اړه د یوه لنډ تصویري کلیپ څخه لیدنه وکړئ:

## د کرونا سره د مبارزې پروژه

- د کرونا ویروس په اړه د مخنیونکي تدابیرو او د فشار مدیریت په اړه معلوماتي توکي (بروشرونه، پوسټرې، او بنر) ډیزاین شوي، چاپ شوي او خپاره شوي.
- په هرات او غور ولایتونو کې د ټولنې لمړني روغتیایی کارکونکو ته چې خلکو ته یې خدمتونه وړاندې کول او د کرونا ویروس روغتونونو روغتیایي کارکونکو لپاره شخصي محافظوي تجهیزاتو (PPE) بستې توزیع شوې.
- د مشورې ډلې د کرونا روغتونونو څخه لیدنه وکړه او د ناروغانو او د هغوی کورنیو لپاره چې په دې روغتونونو کې میشته دي د مخامخ مشورې خدمتونه چمتو کړل، په خاصه توګه هغو زیان منونکو ټولنو لپاره چې رواني روغتیا خدماتو ته لاسرسی نلري.
- د PPSD / CPSDs ته د تلفون له لارې د مشورو ورکول.
- د زیان منونکو کورنیو لپاره د حفظ الصحې بستو وویشل شوې.
- د کرونا وبا روغتونونو روغتیایی کارمندانو لپاره رواني لومړنۍ مرستې چمتو کړي.

**4836**
روغتیایي بستې په کورنیو باندې وویشل شوې

**3625**
په کرونا باندې اخته کسانو روغتیایي مشورې ترلاسه کړې

**303**
روغتیایي کارکونکو شخصي ساتونکې بستې ترلاسه کړې

د دې راپور په لړ کې، تاسو دمخه د بیلابیلو لارو په اړه لوستلي چې زموږ پروژو او برنامو د کرونا پر وړاندې ترسره کړي - زموږ ګن شمیر کارونه د قرنطین پر مهال ځنډیدلي ترڅو د دغې لارې د کرونا ویروس مخه ونیسو، دغو پروژه یوازې هغه وخت بیرته خپل کارونه پیل کړل چې د خپل خوندیتوب څخه یې ډاډ ترلاسه کړ. په کارونو کې د وقفې رامنځته کیدل د کارکونکو او همکارانو خوندي ساتل ول. په ولایتونو کې د دغه ویروس سره زموږ مبارزې توپیر درلود، د مثال په توګه په بلخ ولایت کې زموږ د مزار امرار معیشت او پراختیایي پروژې د خیاطي کورسونو پخوانیو برخه اخیستونکو سره په ګډه ماسکونو تولید کړل او دغه ماسکونه یې د نورو وقایوي توکه سره یوازې په کور دننه بې ځایه شویو باندې توزیع کړل. د نور برنامې د کرونا وبا په لړ کې به چټکې سره وقایوي اقدامات په لاس کې ونیل ترڅو د قرنطین په لړ کې د دغې برنامې روغتونونه د خلکو پر وړاندې پرانیستي پاتې شي، اوهغه خلک معاینه کړي چې مرستو ته اړتیا لري. د ټولنې پراختیایي او رواني روغتیا برنامو د کرونا پر وړاندې ګرندي غبرګون پروژې رامنځته کړې، چې زیان منونکو کورنیو ته د حفظ الصحې بستې توزیع کول او طبي مسلکي کسانو ته د شخصي محافظتي توکي ویشل، او د هغوي لپاره د مشوره چمتو کول پکې شامل وو.

په هرات او غور ولایتونو کې د عامې روغتیا ریاست (PPHD)، پوهنې ریاست، سیمه ایز روغتونونه، د کرونا روغتونونه، ولسوالانو، د ټولنې شورا جوړښتونو، او د زیان منونکو ډلو نماینده ګانو سره په همغږې کې موږ د خپل رواني روغتیا کارونو تنظیم کړل.



د MLDP پروژې یو ګټه اخیستونکی چې د دغې پروژې د پخوانیو ګټه اخیستونکو له خوا یې جوړ شوې ماسک اغوستې.

کرونا ویروس لاهم پای ته نه دی رسیدلی، او موږ پوهیږو چې باید خپل کارونو ته دوام ورکړو او د کرونا له کبله د بد وضعیت سره باید خپل ځان سازګار کړو. خو دې کال ته په لنډې کتنې سره، موږ ولیدل چې زموږ کارکونکو د دغو کال ستونز سره په آرمتیا، او میړانګی سره مبارزه وکړه چې دا زموږ موخې، هیلې او اساسي ارزښتونو سره یوشان دي. د تیر کال له امله، موږ باوري یو چې IAM کولی شي د وبا په مینځ کې کار کولو ته دوام ورکړي ترڅو هغه څه ترسره کړي چې زموږ خلک ورته اړتیا لري.

# مور د شیدو څخه د تغذیې لومړني پیل ته د ودې او ملاتړ پروژه

**د زیږون وروسته په لومړي ساعت کې د مور شیدو څخه تغذیه کول د ماشوم ژوند ژغوري او هغوي ته مادام العمرې ګټې چمتو کوي. له همدې امله، د تیرو دوه کالو راهیسې، زموږ دوه بهرني رضاکاران ځایي روغتون ته ځي ترڅو میرمنو ترمینځ د مور شیدو څخه لومړني تغذیه کولو ته وده ورکړي. په 2020 کې، د دغو رضاکارانه کارونو د مور د شیدو څخه د تغذیې لومړني پیل ته د ودې او ملاتړ پروژې تر نوم لاندې رسمي بڼه غوره کړه. دغه کار دغو رضاکارانو ته دا وړتیا ورکړه ترڅو د ځایی کارمندانو سره خپلو کار کولو ته دوام ورکړي او د مور لخوا د شیدو تغذیه کولو پیل او رامینځته کولو کې عملي ملاتړ چمتو کړي، او همدارنګه د شیدو تغذیه کولو عمومي ستونزو حل او اداره کولو کې مرسته وکړي.**

”زما ټول ماشومان د یوې اونۍ څخه مخکې مړه شول. زه ویریدلې یم.“

مور د حمیدې د بسترې تر څنګ ناست وو، او کله چې هغې اخري فشار ورکو – د زیږون اخري مرحله - مور د هغې لاس په کلکه سره نیولې وه. د هغې او ورسره د کورنۍ غړیو څخه مور پوه شوه چې ډاکټرانو د حمیدې پخواني ماشومان نه و لیدلي ترڅو د هغوي د مرګ په دلیل پوه شي. خو هغې ته ویل شوي ول چې د ماشومانو مړینه یې د هغې د ګناهانو پایله ده.

”ایا تاسو خپلو ماشومانو ته شیدې ورکړي؟“

”نه ، ما ته ویل شوي چې شیدې مې خراب دي د همدې لپاره خپل شیدې باید ماشومانو ته ورنکړم. ما هغوی ته چې او بوره ورکول او ځیني وخت به مې ورته د غوا په شیدو کې بسکټ مات وو.“

”مور نشو ویلی چې ستاسو ماشومان ولې مړه شوي، مګر مور پوهیږو چې خدای مهربان او لوی دی. هغه تاسو ته شیدې درکړي چې ستاسو ماشوم ساتي. مور غواړو چې دا ماشوم د ژوند ترټولو ښه چانس ولري، او مور پوهیږو چې د خدای په مرسته، ستاسو شیدو ورکول به هغه ته دا غوره چانس چمتو کړي! هیڅ څوک ژمنه نشي کولی چې دا ماشوم به ستاسو د نورو ماشومانو په شان اوږد ژوند وکړي، یا نه. مګر مور دا ویلی شوو چې ستاسو شیدې د پاک او سپیځلي خدای ډالۍ ده. کله چې دغه ماشوم وزیږدو، ایا مور ستاسو سره مرسته

**”زما ټول ماشومان د یوې اونۍ څخه مخکې مړه شول. زه ویریدلې یم.“**

کولی شو ترڅو خپل ماشوم سره ښه اړیکه پیل کړې، او ماشوم ته دې شیدې ورکړئ، ترڅو هغه ته د ژوند غوره چانس ورکړل شي؟“

په لومړي سر کې، هغه ټینګار کاوه چې دا غلطه پریکړه وه. د هغې ویره څرګنده وه، نو مور یو څه وخت واخیست او د هغې سره مو دعا وکړه، له خدای څخه یې وغوښتل چې د دې ماشوم ژوندي ساتلو کې مرسته وکړي، وروسته لدې چې مور وویل ”آمین“، هغې پورته وکتل او مور ته یې وویل: ”زه ستاسو خبره منم. زه به شیدې ورکوم.“

د هغې ماشوم سالم او ښکلی زیږیدلی و، او حمیدې خپل پوستکې د ماشوم پوستکي سره وچسپاوو او د زیږون څخه یو څو دقیقې وروسته یې د شیدو ورکول پیل کړل. کله چې حمیده آرامه شوه، نو مور وکولی شو هغې د ماشوم تغذیه کولو په اړه سلامشورې ورکړو، او هغې ته مو د خدای د لوی رحمت پاملرنې، او ملاتړ ډاډ ورکړو. مور د دې ماشوم او د هغه د مور روغتیا او هوسایني لپاره دعا ته دوام ورکوو!



# د صعب العلاجه
# ناروغانو څخه
# د پاملرنې پروژه

د IAM موسسې په ټولنه کې د صعب العلاج ناروغانو څخه د پاملرنې  پروژه (CBPC) سږ کال پیل شوه! CBPC یوه آزمایښي پروژه ده چې موخه یی د هغو ناروغانو سره مرسته کول دي چې د خطرناکه ناروغیو له کبله کم وخت لري. دغه پروژه به د دغو ناروغانو کورنیو، خلکو، او د روغتیایی ځانګو کارکونکو سره په ګډه کار کوي تر څو هغوي د ژوند کیفیت ښه شي.

تسکیني پاملرنې د هغو ناروغانو سره مرسته کوي چې ناروغۍ یې فعاله، روانه یا هم پرمختللې وي او دهغوې ژوند ورځ په ورځ کموي. د ناروغانو د عزت ساتلو او د ژوند کیفیت باندې ډیر تینګار کیږي.

په داسې حال کې چې اوس مهال په افغانستان کې هیڅ ډول تسکیني پاملرنه نشته، موږ هیله لرو چې ټولنې سره د کار کولو په مرستې سره، CBPC پروژه به د محلي روغتیایي ځانګو کارکونکو ظرفیت لوړ کړي ترڅو هغوي لومړنۍ تسکیني پاملرنې چمتو کړلای شي، او د ناروغ، کورنیو، او خلکو سره هم مرسته وکړي ترڅو دوي ته هم هغه کارونو ور وښیي چې دوي یې کولای شي. کله چې ټوله ټولنه د یو ناروغ څخه ملاتړ وکړي، ناروغ به د عزت څخه ډک ژوند او مرګ ولري – په دې معنی چې د هغه څخه به فزیکي، عاطفي او روحي پاملرنه په سمه ټوګه ترسره شوي وي. او کله چې ټولنې په دغه ډول د یو بل څخه ملاتړ او په ګډه کار وکړي بیا به اوږدمهاله او دوامداره شیوې رامنځته کیدای شي.
د 2020 سیږدیز کال په لړ کې د CBPC پروژې ډلې سره په ګډه کار وکړ ترڅو ښوونیزو موادو ته وده او د پروژه راتلونکې ته هم یو پلان جوړ کړي.

پداسې حال کې چې 2020 د پروژې پیل وه، CBPC پریکړه وکړه ترڅو اړیکې رامنځته، مشورې برابرې او د تسکیني پاملرنې د اصولو او تګ لارو په اړه معلومات خپاره کړي. موږ به په لومړي پړوا کې د پروژې لپاره متخصصینو ته روزنه ورکړو، او بیا به سیمه ییز خلک، داکټران، ناروغان، او کورنۍ سروې

> کله چې ټوله ټولنه د یو ناروغ څخه ملاتړ وکړي، ناروغ به د عزت څخه ډک ژوند او مرګ ولري – په دې معنی چې د هغه څخه به فزیکي، عاطفي او روحي پاملرنه په سمه ټوګه ترسره شوي وي.

کړو ترڅو د پروژې په اړتیا باندې پوه شو. وروسته به بیا موږ تخصصي او سیمه ییزه شبکه رامنځته کړو، د تسکیني پاملرنې په اړه به سیمه ییزو ډاکټرانو ته روزنه ورکړو، او CBPC پروژې ته به د ناروغانو راپیژندلو یو کړنلاره رامنځته کړو.

کله چې یو ناروغ موږ ته استول کیږي، موږ به د ناروغ، د هغوي کورنۍ، او په روغتون کې د هغوي داکټرانو سره وګورو ترڅو کورنۍ پروژې سره معرفي او د داکترونو سره هم اړیکې رامنځته کړو، وروسته به بیا د ناروغ په کور کې هغه سره ګورو او ورځځه به پاملرنه کوو. په پیل کې، کورنۍ سره د روزنیزې اړیکې په مرسته د پروژې ټیم به هغوي ته پاملرنه ماډل کړي او په هکله به ورته روزنه ورکړي، خو د دغو زدکړو هدف کورنۍ او سیمه ییزه ټولنې ته د پاملرنې مسئولیتونو سپارل دي. وروسته د دې به CBPC کورنۍ سره ناستې کوي ترڅو د ناروغ مخ په زیاتیدو فزیکي پاملرنې اړتیا ته او د هغه او د کورنۍ رواني او روحي اړتیاو ته رسیدنه وشي چې د غمیزه موده هم په کې شامله ده.

د ټولې ټولنې سره د ګډ کار په مرسته، د CBPC پروژه به هر هغه کس باندې تاثیر کوي چې په دې پروژې کې ونډه لري. دا به ګډونوالو ته وړتیا ورکړي چې د ناروغ د هوساینې او اړتیاو د برابرلو لپاره کار وکړي، پداسې حال کې چې د ټولنې او طبي ټولنې ظرفیت لوړول د دې ځواکمنې، مقصود او مؤثره تګ لارې یو مهمه برخه ده.

# د څغاست
# لیکې راپور



د خاورو ځخه ډک 500 موټر، 10000 ونو کښت او د کار ځخه ډک یو کال، د افغانستان په مرکزي سیمو کې د الوتنې خط د کارونو د پای ته رسیدلو لامل شو.

او د 2020 زیږدیز کال د اکوتبر په 6 نیټه لومړنی الوتکه په دغه نوي ډګر کې راښکته شوه. چې ډیر شمیر خلک د ولسوال، او د ولسوالۍ امنیه قوماندان او د امنیت مشر په شمول هم د لومړنی ناستې لیدلو ته راغلي ول.



د الوتنې دغه څغاست لیکه یوازې 700X30 سیمه نده چې د الوتنې لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي – بلکې دا لیکه به په مرکزي سیمو کې موږ او نورو موسساتو ته د تګ او راتګ زمینه هم برابره کړي او د ډیر شمیر بیوزله خلکو ته د خدمت کولو لپاره به موږ سره مرسته کوي. په مرکزي سیمو کې د 5 کلونو لپاره د الوتنې لیکه نشته وه. دلته به یوائې د ملګرو ملتونو چورلکه دوه اونیو په لړ کې راتله، او کله به چې مسافر نشتول نو وخت به یې د دوه اونیو ځخه هم زیاتیدو او یا کله به هوا خرابه وه، نو زموږ کارکونکو به د پنځه ساعتونو لپاره مزل کاوه – او د ژمې په منځ کې به دغه وخت دوه برابره شو ځکه چې د واورو ډک غرونو ځخه دغه مزل ډیر وخت ته اړتیا درلوده.

د دغې لیکې په جوړولو کې چې د 2019 کال په مني کې پیل شو د IAM ډیر زیات سیمه ییزو کارکونکو او دوه بهرني رضاکارانو ونډه اخیستې وه. ځینو کسانو تخنیکي ملاتړ برابر کړ او ځینو نورو هم د الوتنې پر لیکې کار وکړ – چې په لاس باندې د میدان کنجونو برابر کولو په خاطر یې درې میاشتې وخت ونیو – د دې سر سره ځیني بیا د 10000 ونو په کښت باندې بوخت ول.

کله چې د الوتنې لیکې د ډکولو لپاره خواره راوړل شوه نو یوه تراکتور هغه ټولو خاوره اواره کړه. او په بل پړوا کې د لنګر په مرسته دغه خاوره متراکمه او کلکه شوه، او بیا بلاخره د الوتنې د لیکې چارې بشپړې شوې چې نه یوازې د الوتنې لیکه پکې شامله وه بلکې د الوتکو لپاره د یو کانکریتي سیمه، د حمل او نقل وسایلو لپاره د پارکینګ ځای، او دغې لیکې ته د یو عمومې سرک جوړول پکې هم شامل ول.

د لومړنۍ الوتکې راښکته کیدلو په وخت کې د IAM موسسې هغه کارکونکي د خلکو په منځ کې شته ول چې د دغې لیکې جوړول یې په حقیقت بدل کړې وه. او دوي د لا ډیرو کامیابه الوتنو په تمه دي.

د الوتنې دغه څغاست لیکه یوازې 700X30 سیمه نده چې د الوتنې لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي – بلکې دا لیکه به په مرکزي سیمو کې موږ او نورو موسساتو ته د تګ او راتګ زمینه برابره کړي.

# داخلي راپورونه

د IAM کار به د داخلي څانګو پرته ناممکن وای چې زموږ د کارکونکو او رضاکارانو څخه ملاتړ کوي. سږکال، زموږ د ګڼ شمیر پروژو په څیر، زموږ داخلي څانګې د کرونا ویروس پر وړاندې مقابله وکړه، او موږ ته یې اجازه راکړه چې خپل ارزښتناکه کارونو ته دوام ورکړو.

## مالي څانګه

په 2020 کال کې، د IAM د مالي چارو څانګې د پروژو او برنامو سره مرسته وکړه ترڅو فکر وکړي چې د کرونا ویروس به د دوي بودیجې او لګښتونو باندې څه پایلې ولري، او همدارنګه د مالي چارو نوې پالیسیو او پروسیژرونو باندې د کار کولو له لارې زموږ پروژې سره مرسته کوي ترڅو موږ د خپلو سرچینو څخه ډیره ګټه پورته کړو. د مالیې څانګه د ځوان افغان کارپوهانو لخوا اداره، او د تجربه لرونکو بهرنیانو لخوا ورته ملاتړ برابر کیږي. د دې څانګې موخه د موسسې سره د کره، په وخت او عملي مالي راپورونو برابرولو له لارې مرستې کول دي؛ د پریکړې نیونکو سره د پریکړو کولو کې مرسته کوي؛ د واضح پروسو او داخلي کنټرولونو پلي کولو له لارې د دفتر سرچینو او منابعو خوندي ساتل؛ او پداسې حال کې چې د ډله ییز کاری چاپیریال، ښې اړیکې، او ګټور کار ترسره کوي، زموږ د قانوني، تنظیمي او مالي اړتیاو سره هم مطابقت کوي.

## د ملي اداري دفتر

**د ملي اداري څانګه د افغانستان دولت سره ښې کاري اړیکې تضمینوي، زموږ د ټولو برنامو او شتمنیو لپاره رسمي ثبت او اجازه لیک د اخیستلو لړۍ اداره کوي، او د نړیوالو کارکونکو او لیدونکو لپاره د کاري جواز نوم لیکنه او د ویزې کارونه ترسره کوي، او د ګمرکونو، تدارکاتو او نورو اړینو لوژستیک پورې اړوند دندو څخه څارنه کوي.**

## د میډیا څانګه

د IAM میډیا ډله د دې کلني راپور او همدا راز څو نورو چاپ شویو او آنلاین خپرونو د جوړولو مسؤله ده چې د IAM، ګمارلو، اعانه ورکولو او روزنو په اړه په ملي او نړیواله کچې د پوهاوي لوړولو کې مرسته کوي. تاسو کولی شئ په iam-afg.org کې د IAM وروستي خبرونه څخه لیدنه وکړئ!

زموږ په اړه لا ډیر معلومات ترلاسه کړئ

## د ټکنالوژي څانګه

د IAMtech ډله د هغه نرم افزارو او سخت افزارو څخه ساتنه کوي چې IAM ته په عصري نړۍ کې د کار کولو وړتیا ورکوي: کمپیوټرونه، د نرم افزارو جوازونو، برېښنایي حسابونو، وب سایټ، د اسنادو شریکول، د انټرنت قراردادونه، سیمه ییزې شبکې، او پالیسیو څخه څارنه کوي ترڅو د ناوړې استفادې او سایبري بریدونو څخه ساتنه وکړي. کرونا ویروس د ویډیوي ناستو، ژبې درسونو، د کامپیوټرونه څخه د لرې ملاتړ کول، او د بودجې د کمښت لپاره اړتیاوي ډیرې کړې. د همدې لپاره موږ د انټرنت اتصالات نوي کړل، د لرې لارې څخه د ملاتړ برابرولو نوي وسایل مو معرفي کړل، د ویډیوي ناستې بیلابیل وسایل مو وڅیړل، او وتوانیدلو چې په دغه کال کې د IT څانګې لګښت راکم کړو. موږ د کمرو سیسټم یو شمیر اپ ګریډونو کې هم برخه اخیستې او د خپلو کارکونکو د خوندیتوب لپاره د امنیت معلوماتو خپرولو پروسې ته مو هم وده ورکړې، او د برېښنا نشتون کې د انټرنیټ اتصالاتو ساتلو لپاره مو د بیټرۍ سیسټمونه هم نوي کړل. دا ټول کارونو مو پداسې حالت کې ترسره کړل چې د IAM موسسې ورځنۍ اړتیاوی ته د ملاتړ برابرول لړۍ ته مو هم دوام ورکړ.

د IAMtech ټیم د یو تجربه لرونکي بهرني مسلکي رضاکار لخوا رهبري کیږي او کارونه یې د درې ځوانو تخنیکرانو او برنامو لیکنکو لخوا په درې سیمو کې پر مخ ځي چې زموږ د پروژو، برنامو او اشخاصو ظرفیت رامینځته کولو لپاره د IAM په ټولو دفترونو کې په ګډه کار کوي.

د IAM موسسه په ټوله کې د اجرائیه رئیس او د مشرتابه بیلابیلو ډلو لخوا ملاتړ او رهبري کیږي ترڅو د IAM پروژې او برنامې د خپلو استراتیژیو د تطبیق لپاره پیاوړي او په وسایلو سمبالې شي. زموږ نړیوالو کارکونکو څخه ملاتړ، د والدینو لخوا اداره شوی لومړنی ښوونځی، د انعطاف وړ عصري ښوونیزې برنامې سره د ژبې روزل شوي ښوونکي (د IAM ټول نړیوال کارکونکي د کار پیلولو د مخه درې یا پښتو ژبه زده کوي)، د کارکونکو/ګمارنې یوه کوچنې ډله. (د بشري سرچینو د پالیسیو او د ټولې اداري لپاره د روزنې مسئوله هم ده)، ځایي ساتنه، روزل شوي موټر چلوونکي او امنیتي کارکونکي.


# مالي راپور

## د برنامې لګښت

د 2020 کال لګښتونو، سیمې او څانګو ته په کتنې سره ترتیب شوي دي د حساب ورکولو وړ دي.

| | د پروژې لګښتونه | رضاکار | ډول |
|---|---|---|---|
| **کابل** | | | |
| د نور مرکزي اداره | 331010 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| د سترګو څخه د ساتنې روزنيز مرکز | 463708 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| د سترګو تکنشينو روزنيزه برنامه | 66476 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| د دشت برچې کلينيک | 83922 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| د سولې جوړونې پروژه | 42515 | 4091 | پراختيا |
| **بلخ** | | | |
| د مزار د سترګو روغتون | 459614 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| د وربشمو لاري انګليسي ژبې ښووونيز مرکز | 52500 | 52500 | زده کړه |
| د ښځينه ښوونکو روزنې پروژه | 138090 | 95000 | زده کړه |
| د مزار امرار معيشت او پراختيايي پروژه | 40533 | 70000 | پراختيا |
| د صعب العلاجه ناروغانو څخه د پاملرنې پروژه | 8927 | 15000 | روغتيا |
| **مرکزي سيمې** | | | |
| د ټولنې پراختيايي پروژه | 106667 | 262151 | پراختيا |
| **هرات** | | | |
| د رواني روغتيا ټولنيزه پروژه | 207580 | 19091 | رواني روغتيا |
| د خوانانو د عاطفي پياوړتيا پروژه | 51990 | 19091 | رواني روغتيا |
| د کوچنيانو او نويو ځوانانو د رواني روغتيا پروژه | 70275 | 19091 | رواني روغتيا |
| د ښې روزنې پروژه | 104227 | 19091 | رواني روغتيا |
| د ټولنيزو روغتيايي مشاورينو ترېيوې پروژه | 103447 | 19091 | رواني روغتيا |
| د کرونا سره مبارزه | 290407 | 0 | روغتيا |
| **کندهار** | | | |
| د کندهار د سترګو روغتون | 179692 | 4091 | د سترګو څخه ساتنه |
| مجموع | **3037577** | **448259** | |

## لګښتونه په شکل کې



د سترګو څخه ساتنه: 52%
رواني روغتيا: 18%
روغتيا: 11%
پراختيا: 10%
زده کړه: 9%

مورږ هغه څه چې وايو
او هغه څه چې سم
وي هغه ترسره کوو،
او د خپلو کارونو په اړه
داخلي او بهرني ارزيابيو
ته چمتو يو

زموږ اساسي ارزښتنو په عمل کې:
حساب ورکول


زموږ اساسي ارزښتونو څخه يو يې حساب ورکول دي، او زموږ مالي څانګه هڅه کوي چې د خپل کار په هره برخه کې دغه ارزښت رعايت کړي.

| زیرمې | |
|---|---|
| عمومي او د بورډ له خوا ډیزاین شوی بودجه | 892424 |
| د ټاکل شوي پروژې بودجه | 764146 |
| د ډونر له خوا محدود شوي بودجه | 39938 |
| محدودیت لرونکي پانګوونه | 260344 |
| **مجموع** | **1956852** |


| شتمنې | |
|---|---|
| ثابته شتمني | 409063 |
| موجودي | 165269 |
| پور ورکونکي | 271134 |
| په بانک کې نقده پیسې | 1846183 |
| **مجموع** | **2691649** |

| مسئولیتونه | |
|---|---|
| د تیم غړي، کارکونکي او اداره | 39359 |
| تعهدي لګښتونه | 32675 |
| مالیاتي مسئولیتونه او د تادیه ور مالیات | 271134 |
| نور تادیات | 146881 |
| ځنډول شوي عاید | 24843 |
| د تادیه ور تقاعد | 483653 |
| **مجموع** | **734798** |


## د عاید سرچینه




## نړیوالې سرچینې




## په بیلابیلو سیمو کې لګښتونه



# زموږ کارکونکو

## دغه ټول په حقیقت بدل کړي

دا کلنی راپور، او هرڅه چې موږ یې په IAM کې ترسره کوو، زموږ د ډونرانو، غړو ادارو، او ټولو اشخاصو د ملاتړ او سخاوت ښکارندوي کوي. د همدې کبله، د دوي ټولو څخه یوه نړی مننه!

**Mairie de Chene-Bourg**

څخاستن لیکه

**Mairie de Meyrin**

د ټولنې پراختیایي پروژه

**MCC**

د رواني روغتیا تولنیزه پروژه

د سولې جوړونې پروژه

**MCCN**

د رواني روغتیا تولنیزه پروژه

**TEAM**

د وریښمو لارې انګلیسي ژبې ښوونیز مرکز

د صعب العلاجه ناروغانو څخه د پاملرنې پروژه

**Tearfund Australia**

د ښې روزنې پروژه

کرونا سره چټکه مبارزه

د ټولنې پراختیایي پروژه

**Tearfund UK**

کرونا سره چټکه مبارزه

د ټولنې پراختیایي پروژه

د رواني روغتیا برنامه

**UK Aid**

کرونا سره چټکه مبارزه

د ټولنې پراختیایي پروژه

**Cyan**

د ټولنې پراختیایي پروژه

کرونا سره چټکه مبارزه

د رواني روغتیا برنامه

**Digni**

د ښځینه ښوونکو روزنې پروژه

**EU**

د رواني روغتیا برنامه

**FLM**

د رواني روغتیا برنامه

**GBGM/UMCOR**

د رواني روغتیا برنامه

د رواني روغتیا تولنیزه پروژه

**Global Team**

د رواني روغتیا برنامه

د صعب العلاجه ناروغانو څخه د پاملرنې پروژه

**Interact**

د مزار امرار معیشت او پراختیایي پروژه

د کوچنیانو او نویو ځوانانو د رواني روغتیا پروژه

د ټولنې پراختیایي پروژه

**Lakarmissionen**

د سترګو تکنشینو روزنیزه برنامه

# زموږ سره یوځای شئ

## زموږ سره همکار شئ

آیا د دغه راپور لوستلو وروسته تاسو زموږ د کارونا په اړه کنجاکو او هیجاني شوې؟

تاسو کولی شئ د آنلاین مرستې له لارې، یا د لاندې بانکي حسابونو له لارې زموږ په لید کې برخه واخلئ:

په آنلاین بڼه مرسته او همکاری

iamafg.org/give

د دغه ایمیل له لارې **donors@iam-afghanistan.org** موږ سره په اړیکه کې شئ، او دا را ته ولیکئ چې د ستاسو مرستو څخه باید په کوم ډول ګټه واخیستل شي.

### افغانستان:

د افغانستان نړیوال بانک (AIB)

د حاجي یعقوب څلور لاره، شهاب الدين واټ شهرنو

د پسټ شمیره 2074، کابل افغانستان

ګټه اخیستونکې: د نړیوالې مرستې ماموریت

د بانکي حساب شمیره: 0528102008667300

د سویفټ کوډ: AFIBAFKAXXX

د اسعارو ډول: USD

### United Kingdom

Lloyds Bank

Charing Cross Branch

49 Strand

London WC2N 5LL

Beneficiary: International Assistance Mission

Account No: 00361489

Sort code: 30-91-79

BIC: LOYDGB21216

IBAN: GB84 LOYD 3091 7900 361

### Switzerland

UBS

Case Postale

Geneva 2

CH–1211

Beneficiary: Mission Internationale d'Assistance

BIC: UBSWCHZH80A

USD Account IBAN: CH 25 0024 0240 4173 9760R

CHF Account IBAN: CH 83 0024 0240 4173 9741A

Euro Account IBAN: CH 20 0024 0240 4173 9761H

### Opportunities for international volunteers to join IAM

If you are interested in joining IAM as an international volunteer, we would love to hear from you! Contact us at **personnel.dir@iam-afghanistan.org** to find out more!



دغه راپور د **IAM** د کارکونکو لخوا لیکل او تولید شوی، او په افغانستان کې چاپ شوی دی. په دغه راپور کې ټول عکسونه د رضایت سره کارول شوي او د خلکو د هویت خوندي ساتلو لپاره په کیسو او راپورنو کې د هغوي نومونه ته هم بدلون ورکړل شوې.

د آنلاین له لارې موږ سره یوځای شئ:
**زموږ وبسایټ:** iamafg.org

زموږ د فیسبوک پاڼه**:** facebook.com/
internationalassistancemission

iam
د نړیوالې مرستې ماموریت